د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه
د اداری فساد په وړاندی د زیان مننی د ارزونی څانګه
دار الانشاء

# د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د داخلی آزموینو په پروسه کی د اداری فساد پر وړاندی د زیانمننی د ارزونی رپوټ



کابل

د ۱۳۹۲ کال د وری میاشت

## مخففات

| | |
|---|---|
| HRD Cluster | Human Resources Development Cluster د انسانی سرچینو د پراختیا کړی |
| KU | Kabul University د کابل پوهنتون |
| KMU | Kabul Midical University د کابل طبی پوهنتون |
| KPU | Kabul Politechnic University د کابل د پولی تخنیک پوهنتون |
| KEU | Kabul Educational Unviresity د کابل د ښوونی او روزنی پوهنتون |
| MEC | Independent Joint Anti-corruption Monitoring and Evaluation Committee د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیته |
| MoHE | Ministry of Higher Education د لوړو زدکړو وزارت |
| NPP | National Proirity Programs د ملي لومړیتوب پروګرامونه |
| MSI | Management System International د مدیریت نړیوال سیستم |
| P&G | Pay and Grading رتبی او معاشونه |
| USAID | United States Agency for International Development د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایی اداره |
| VCA | Vulnerability to Corruption Assessment د اداری فساد پروړاندی د زیان منلو ارزونه |
| VCA Team | Vulnerability to Corruption Assessment Team د اداری فساد پروړاندی د زیان منلو د ارزونی ډله |

## د کمیټی پیژندنه

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه (MEC) لکه څنګه چی له نوم څخه یی جوتیږي یوه خپلواکه او ګډه کورنی / نړیواله کمیټه ده چی د افغانستان د جمهوری ریاست د ستر مقام د ۶۱ ګڼی فرمان له مخی د ۱۳۸۸ لمریزکال د کب په میاشت کی وروسته له هغه رامنځ ته شوه چی په بیلابیلو نړیوالو کنفرانسونواو غونډو کی د اداري فساد سره مبارزی ته او له مبارزی څخه د څارلپاره جدی اړتیا ولیدل شوه. یاده کمیټه شپږ کورنی او بهرنی غړي لري چی دری تنه یی کورني او پاتی دری تنه بهرنی غړي دي. د کمیټی کورنی غړي د جمهوري ریاست د ستر مقام له خوا ګمارل شوي او دری بهرنی غړي د نړیوالی ټولنی له خوا معرفي شوي چی د جمهوري ریاست د ستر مقام له منظوري او تایید وروسته د غړیتوب لپاره کمیټی ته ورپیژندل شوي دي. د کمیټي مشري شپږ میاشتی د کورنی غړي له خوا مخته وړل کیږي او په شپږو نورو میاشتوکی د نوموړي کمیټی مشری د بهرنی غړي له خوا پرمخ وړل کیږي.

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکی ګډی کمیټی د رامنځته کولو موخه داده چی د اداري فساد پروړاندی د افغانستان د اسلامي جمهوریت او نړیوالی ټولنی د مبارزی له کړنو څخه په بی پری او کره ډول څارنه ترسره شي. سربیره پردي یاده کمیټه دنده لري چی د کورنیو او نړیوالو ادارو لپاره سپارښتنی او بنچمارکونه په ګوته کړي او وروسته یی له پلی کیدو څخه څارنه وکړي. همدارنګه دغه کمیټه باید هرشپږ میاشتی خپل کاري رپوټ جوړ او د افغانستان جلالمتآب جمهور ریس، ملی شورا ، د افغانستان خلکو او نړیوالی ټولنی ته وړاندی کړي. د کمیټی خپلواکي یا ناپیلتوب د افغانستان د دولت او نړیوالی ټولنی له خوا په رسمیت پیژندل شوی او داکار د دی لامل کیږي چی یاده کمیټه خپلی ټولی چاری په خپلواکه او پوره روڼتیا سره ترسره کړي

- **د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکه ګډی کمیټی دار الإنشاء**

د دار الإنشاء د رامنځته کولو موخه د کمیټی لپاره د لازمو آسانتیاوو برابرول ګڼل کیږي ترڅو د کمیټی له پریکړو څخه له اړتیا سره سم څارنه وکړي او د کمیټی د ناستو څخه مخکی لازمی تخنیکی مرستی برابری کړي. د کمیټی دارالانشا د اړونده رئیس تراغیزی لاندی یو لنډ یا مختصرتشکیلاتي جوړښت لري چی د اداری فساد د مخنیوي، د قانون پلی کولو، حکومتوالي او د د فساد پروړاندی د زیانمنیی د ارزونی څانګی رانغاړی .

پورتنی څانګی هریو په خپلواکه توګه خپله کاري دنده لري چی له کورنیو او نړیوالو کارپوهانوڅخه جوړه شوی چی په خپله اړونده ځانګړو کاری برخوکی له یوی خوا د کمیټی له پریکړو او د دولتی ادارو د کړنو څخه څارنه کوي او له بلی خوا هریو یی په خپله اړونده کاري برخه کی څیړنی کوي ترڅو راتلونکی غونډی ته په ټولیزه توګه یو لړبنچمارکونه په تحلیلی ډول برابرکړي او د کمیټی دکارلپاره د سپارښتنو د وړاندی کولو په برخه کی لازمی آسانتیاوی رامنځته کړي.

- **د اداری فساد پروړاندی د زیان مننی د ارزونی څانګه یا VCA**

د کمیټی یوه کاری برخه دولتی ادارو ته د سپارښتنو او بنچمارکونو وړاندی کول دی ترڅو د عامه خدمتونو د وړاندی کولو په پروسو کی ښه والی رامنځته شي او د دی کارد ترسره کولو لپاره اړتیا ده چی د عامه خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کی د اداری فساد په وړاندی زیانمننی پیدا او و پیژندل شي. له دی امله کمیټی پریکړه وکړه ترڅو د فساد پروړاندی د زیانمنیی د ارزونی څانګه رامنځته کړي چی وکولای شی د عامه خدمتونود وړاندی کولو په برخه کی احتمالی زیانونه وپیژنی او دکارد ښه والی لپاره لازمی سپارښتنی وړاندی کړي ترڅو په اړونده ادارو کی د فساد له احتمالی واقع کیدلو څخه مخنیوی وشي. د فساد پروړاندی د زیانمنیی د ارزونی څانګه د امریکا د متحده ایالاتو د نړیوالی پراختیایی اداری په مالی مرسته او د MSI د نړیوالی اداری د تخنیکی مرستی له لاری د کمیټی د دارالانشا په چوکاټ کی منځ ته راغلی.

## فهرست محتويات


**مخففات ........................................................................................................ أ**

**د کمیټی پيژندنه ...................................................................................................ب**

- **د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکه ګډی کمیټی دار الإنشاء ........................ ب**
- **د اداری فساد پروړاندی د زیان مننی د ارزونی څانګه یا VCA.......................................... ب**

**د ارزونی موخه ...................................................................................................... أ**

**1. د رپوټ لنډيز ...........................................................................................................ب**

**1.1. د راټولوشوو مالوماتو تحلیل او ارزونه ........................................................................ ب**

**1.2. د اداری فساد په وړاندی د لوړو زدکړو دموسساتو د داخلی آزموینی د پروسی زیانمننه ............ج**

**1.3. پّه دی رپوټ کی د وړاندی شوو سپارښتنو لنډيز ..................................................................ج**

**2. سریزه..................................................................................................................... 1**

**2.1. په پوهنتونونوکی د داخلی آزموینی د پروسی د وضعیت تحلیل ........................................1**

**2.2. په دی پروسه کی د VCA د په لاره اچولو اړتیا.................................................................1**

**2.3. د هیواد د لوړو زدکړو د داخلی آزموینی په پروسه کی شاملی اداری .........................................2**

**2.4. د ارزونی لاندی ساحی (VCA) .......................................................................................2**

**2.5. میتودولوژی (VCA) .......................................................................................................2**

2.5.1. د مالوماتو د راټولولو لاره ....................................................................................... 2

2.5.2. په رپوټ کی د مالوماتو د ځای په ځای کولو لاره .................................................... 3

2.5.3. د مالوماتو د تحلیل او ارزونی لاره.............................................................................. 3

2.5.4. د اداری فساد په وړاندی د زیانمنلو د تشخیص او پيژندلو روش .............................. 3

2.5.5. د سپارښتنود وړاندی کولو لاره........................................................................................ 4

**3. د لوړو زدکړو د موسساتو د داخلی آزموینی د پروسی د حقوقی سندونو ارزونه........................... 5**

**3.1. د تحصیلی موسساتو د داخلی آزموینی دپروسی د حقوقي چوکاټ په هکله د پوښتن پاڼی د ځواب ورکونکو نظریات..................................................................................... 5**

**3.2. د داخلی آزموینی د پروسی حقوقی اسناد ......................................................................5**

**3.3. د پروسی د حقوقي چوکاټ کمزورتیاوی.........................................................................6**

**3.4. د لوړو زدکړو په موسساتوکی د لیسانس د دوری لپاره د کریدت د سیستم لایحه ......................6**

**3.5. د شته حقوقي چوکاټ د کمزورتیاو په پام کی نیولو سره په پروسه کی د شخصی پریکړو شاملول...8**

**3.6. په پروسه کی د حقوقي چوکاټ د پلی کولو او په پام کی نیولو څرنګوالی...............................8**

**3.7. د پروسی د حقوقي چوکاټ د پلی کولو الزامیت ..................................................................9**

**3.8. د پروسی د حقوقي اسنادو زیانمننه ...............................................................................9**

3.9. سپاربښتنی............................................................................................... 10
4. د داخلی ازموینی په پروسه کی د تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینو ارزونه.............................. 12
4.1. د ځواب ورکونکو نظریات د انسانی سرچینو(استاذان) او تشکیلاتي جوړښت په هکله ............ 12
4.2. په پوهنتونونو کی د کافی استاذانو موجودیت............................................................... 13
4.3. د تحصیلي موسساتو د استاذانو پوهه او تجربه ........................................................... 13
4.4. د استاذانو لپاره د دندو د لایحی شتون .................................................................... 13
4.5. له محصلینو سره د استاذانو مسلکی چلند................................................................... 14
4.5. تدریس ته د استاذانو لیوالتیا.................................................................................. 14
4.6. د استاذانو رښتینولی.............................................................................................. 14
4.7. استاذان د خپلو غیراخلاقی غوښتنودپوره کولولپاره له آزموینی څخه ناوړه ګټه اخلی ............ 14
4.8. د تحصیلی موسساتو په تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینوکی د فساد په وړاندی زیانمننی..... 14
4.9. سپاربښتنی :....................................................................................................... 15
5. د تحصیلی موسساتود داخلی آزموینی په پروسه کی د رښتینو کړنو ارزونه................................ 17
5.1. د تحصیلی موسسو د آزموینی په پروسه کی تثبیت شوی پراوونه........................................ 17
5.2. د ځواب ورکونکو او نورو سرچینو څخه لاسته راغلی مالومات.......................................... 18
6. د داخلی آزموینی په پروسه کی د اسنادو او مالوماتو د مدیریت د سیستم زیانمننه.................... 23
6.1. په دی پروسه کی د اسنادو او مالوماتو د مدیریت د سیستم څرنګوالی................................. 23
6.2. د آزموینی اړونده اسنادو د مدیریت د میکانیزم شتون ................................................ 23
6.3. اسنادو ته د لاسرسی زیات وخت نیول ..................................................................... 24
6.4. د اسنادو خوندیتوب ............................................................................................. 24
6.5. د مالوماتو او اسنادو په سیستم کی د لاس وهنی شونتیا................................................. 24
6.6. د اداري فساد په وړاندی د پروسی د اسنادو او مالوماتو د سیستم زیانمننه ........................ 24
6.7. سپاربښتنی........................................................................................................ 25
سرچینی:............................................................................................................. 26
لومړی مل ........................................................................................................... 1

## د ارزونی موخه

د د داخلی ازموینی په پروسه کی د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی د ارزونی موخه داده چی په پروسه کی د اداري فساد معمول ډولونه، سرچینی، پایلی او د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی کچه وپیژندل شي او د پروسی د کار دبڼه والی لپاره لازمی سپارښتنی وړاندی ترڅو د اداری فساد د بیلابیلو ډولونود زیان په وړاندی مخنیوی وشي.

## 1. د رپوټ لنډيز

تیرو درولسیزو تېل شوو جګړو افغانستان د هغو هیوادونو په کتار کې ودراوه چې ډيرې نفوس يې د ليک او لوست له نعمت څخه بې برخې دی. په ۲۰۰۱ میلادی کال کې د طالبانو د حکومت له پرزيدلو وروسته د موقتی اداری په رامنځته کیدوسره د پوهنتونو نو او د لوړو زدکړو د موسساتو بیا جوړولوته پام واړول شو. د هیواد د پوهنې د وضعیت ښه والي او دهیواد کابو ۸ میلیونه ځوانانو او تنکیو ځوانانوته د زدکړې د موکې برابریدل د دې لامل شو چې لوړو زدکړوته غوښتنه ډيره شي. کوم لومړنی امکانات چې نوی حکومت لرل بې له شکه چې د لوړو زدکړو لپاره د نوی نسل د غوښتنو ځواب ورکونکی نه ول. اوسنی واقعیتونه د دې ښکارندويي کوي چې د افغانستان د لوړو زدکړو وزارت اوس مهال د دې جوګه دی چې د هیواد دننه اود باندې د ۲۵۰۰۰۰ څخه زیاتو افغان محصلینوته د لوړو زدکړو موکه برابره کړي. په هیواد کې د لوړو زدکړو په موسسوکې د ځوانو محصلینو بې ساری زیاتوالی سره له دې چې د اوسنی حکومت په ځانګړی توګه د لوړو زدکړو وزارت ته یوه ستره لاسته راوړنه بلل کیږي خو له یاده باید ونه باسو چې دا ډيروالی په ورته حال کې د زدکړو د کیفیت او دمحصلینو چاروته د رسیدنی په برخه کې ننګونی زیږوي. چې د اداری فساد لپاره موکه برابروي. د پورته دلایلو پر بنسټ یو لړ کمزورتیاوې د تحصیلي موسسو د داخلي ازموینې په پروسه کې رامنځته شوې چې پروسه د فساد پر وړاندې زیانمنوي .

د داخلي ازموینو موضوع یو ستر مسولیت دی چې ټول پوهنتونونه باید د تدریس د کیفیت د ښه والي لپاره په عادلانه ډول د ټولو محصلینولپآره موکه برابره کړي. په دې برخه کې د لوړو زدکړو وزارت رول دا دی چې قوانین، مقررات، پالیسي پاڼې، کړنلارې او لایحې ترتیب کړي او په متحد المال ډول يې په ټولو تحصیلي موسساتوکې وويشي ترڅو په دې موسساتوکې پلې شي. سربیره پردې د لوړو زدکړو وزارت مکلفیت لري ترڅو د لوړو زدکړو په موسساتو کې د پورتنیو سندونو د پلې کیدلو له څرنګوالی څارنه وکړي.

د ارزونې ډلې د آزموینې د پروسې حقوقي او اداري چوکاټ، د انساني سرچینو او تشکیلاتي جوړښت، رښتيني کړنې او د پروسې د اسنادو او مالوماتو د مدیریت سیستم ترارزونې لاندې نیولی دي. ترکومه ځایه چې د ارزونې د پلاوې ځانګړې موخه د فساد د بیلابیلو ډولونو،سرچینو،پایلو،دفساد د کچې او دزیانمنو برخو پيژندل ګڼل کیږي. په دې برخه کې د ارزونې ډلې یوازې له یوه ځيرنيزې کړنلارې څخه استفاده نه ده کړې بلکه د اړتیا په صورت کې يې د موخې د ترلاسه کولو لپاره له بیلابیلو ځيرنيزو کړنلارو څخه ګټه اخیستې ده.

### 1.1. د راټولوشوو مالوماتو تحليل او ارزونه

د ارزونې ډلې هڅه کړې ترڅو د پوهنتونونو د داخلي آزموینې ټول حقوقي او اداري سندونه د اړونده څانګو د چارواکو په همغږی راټول، مطالعه او تحلیل کړي. کوم اسناد چې د حقوقي اسنادو په توګه د ډلې په واک کې ورکول شوي د لیسانس د دورې لپاره د افغانستان د لوړو زدکړو د موسساتو د کریډت سیستم لایحه او د لوړو زدکړو د موسساتو د آزموینې لایحه ده. سربیره پردې تشکیلاتي جوړښت او د استاذانو او په پروسه کې د شاملو کارکونکو د دندو لایحې هم ترلاسه شوې دي. خود محرمیت په پام کې نیولو له امله په دې پروسه کې یوه نمونوي دوسیه د مستند جوړولو لپاره نه ده ورکړل شوې. له دې کبله د داخلي آزموینې د پروسې پراوونه له استاذانو او شاملو کارکونکو سره د ځانګړو مرکو پربنسټ پيژندل شوي.

کوم مالومات چې د پوښتنپاڼو څخه لاسته راغلي په ښکاره ډول د آزموینې په پروسه کې د فساد په وړاندې زیانمنې برخې په ګوته کوي. استاذان او د اداری کارکونکي سره له دې چې د اداری له کاري ډلې څخه ځان د باندې نه ګڼي اقرار کوي چې پروسه د فساد په وړاندې زیانمنه ده. د یوشمیراستاذانو تدریس له معیارسره برابرنه دی همدارنګه د پروسې د حقوقي چوکاټ کمزورتیا، د دغه چوکاټ نه په پام کې نیول، د لوړ پوړو چارواکو او مشرانو نفوذ د پوهنتونونو په کارې چاروکې په ځانګړې توګه د آزموینې په پروسه کې، سیاسي قومي نژادي تعصبات، له آزموینې څخه د یوشمیراستاذانو ناوړه ګټه اخیستل، او کمزوری او نا منظم کنترول ټول هغه موارد دي چې پروسه دفساد په وړاندې زیانمنوي، دا موارد د لوړو زدکړو په موسساتوکې لیدل شوی دي.

## 1.2. د اداری فساد په وړاندی د لوړو زدکړو دموسساتو د داخلی آزموینی د پروسی زیانمننه

د ارزونی ډلی وروسته له مطالعی او تحلیل څخه دی پآیلی ته رسیدلی چی په دی برخه کی په لیکلی ډول دری سندونه شتون لري چی د پلی کیدو وړ دي: ۱- د لوړو زدکړو د موسساتود آزموینی لایحه ۲- د لوړو زدکړو د موسساتو لپاره د کریدت لایحه ۳- د وروستی سمسترد آزموینی کړنلاره. دغه سندونه بولړستونزی لکه ناڅرګندوالی، تناقض، تکرار، نه پلی کیدونکی او د فساد په وړاندی زیانمن احکام لري چی سمون ته اړتیا لري. خو ترټولو ستره ننګونه داده چی خپله استاذان د دغو لوایحو او کړنلارو مواد په پام کی نه نیسي. د دی پروسی د حقوقی چوکاټ سربیره، د ارزونی ډلی نوری برخی لکه د تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینو، رښتینی کړنی، او دپروسی د اسنادو او مالوماتو د مدیریت سیستم هم ارزولی دي.

په ټولیزه توګه ترلاسه شوی مالومات ښیی چی د استاذانو کمښت په هغه پوهنتونونو کی چی د کریډټ په سیستم تدریس پکښی کیږي، په ټولو پوهنتونوکی د یوشمیر استاذانو ښکته مسلکی وړتیا په خانګړی توګه په مرکزکی، له نوو تدریسي کړنلارو څخه ګټه نه اخیستل، د آزموینی د پروسی د حقوقي چوکاټ په پام کی نه نیول، د استاذانو بوختیا په اداری برخه کی، باندنی مداخلی او غیرموجه فشارونه، د محصلینو لپاره د مدافع مرجع نه شتون، د قومي ، ژبنیو، سمتی او مذهبی تعصباتو شتون او نور عوامل ټول په ګډه په یو ډول د لوړو زدکړو موسساتو د داخلی آزموینی پروسه د اداری فساد په وړاندی زیانمنه کړی ده.

د مالوماتو او اسنادو د مدیریت زوړ سیستم له یوی خوا د اسنادو د ورکیدلو لامل کیږي او په ټولیزه توګه د محصلینو د سوابقو او نورو اسنادو نه خوندیتوب د اړونده څانګو له خوا د معاملاتو په موخه د فساد او لاس وهنی موکه برابروي. داسی بیلګی شته چی شتمنو او واسطه لرونکو محصلینوڅو ځلی چانس خوړلی او کمی نمری یی اخیستی خو په پای کی کدری فارغ شوی دي. له دی نه علاوه اسنادو او مالوماتو ته لاسرسی ستونزمن او ډیروخت ته اړتیا لري، حتی څو اونی وخت نیسی ترڅو یو سند له آرشیف څخه ترلاسه شي.

## 1.3. پّه دی ریوټ کی د وړاندی شوو سپارښتنو لنډیز

په دی ریوټ کی وړاندی شوی سپارښتنی د فساد په وړاندی د ارزونی ترپوښښ لاندی څلورو زیانمنونکو برخو ته په پام سره په لاندی مواردو باندی تمرکزلري ، د لوړو زدکړود موسساتو په کچه د پالیسی پاڼو، کړنلارواومقرراتو په جوړولو په ځانګړی توګه د پوهنتونونو د داخلی آزموینی په پروسه کی، د کارکونکو او استاذانو ارزونه او دهغوی د اړتیاوو پوره کول، د کارکونکو او استاذانو د وړتیا د ودی په موخه د روزنیزو پروګرامونو طرحه او په لاره اچول، د پوهنتونونو د داخلی آزموینی په پروسه کی د څارنیزومیکانیزمونو رامنځته کول، د ارشیف د اوسنی سیستم سمون، د مالوماتو او اسنادو د خوندیتوب تضمین، د مالوماتو او اسنادو د مدیریت د سیستم بریښنایی کیدل، او ترټولو مهمه دا چی پالیسی پاڼی باید جوړی شي چی د آزموینی په پروسه کی د باندنی او غیرموجه مداخلو او لاس وهنو مخه ونیسي.

## 2. سریزه

د تیرو دریو لسیزو جګړو نه یوازی دا چی د افغانستان مهم اقتصادی او ټولنیز بنسټونه له منځه یوړل ، په میلیونونه خلک یی د مرګ کندی ته وغورځول بلکه د دی هیواد علمی او کلتوری بنسټونه یی هم د تیارو کندی ته وغورځول چی یو وخت په سیمه کی له خورا اهمیت او کیفیت څخه برخمن ول، او علمی اداری یی د ناسمو او تنظیمی او قومی سیاستونو په ځاله بدلی کړي. د هیواد د متفکرو مغزونو او مجربو استاذانو تګ ګاونډیو ملکونو یا نورو هیوادونوته ، د استاذانو او باتجربه او مسلکی کارکونکو غیرمسلکی بوختیا ترڅو دخپلی کورنی اعاشه پوره کړي ، د بیلابیلو رژیمونو مداخله په اکادمیکو چارو او د لوړو زدکړو په موسسوکی، ټول په ګډه د دی لامل شول چی د هیواد تحصیلي نظام ګډوډ کړی. تردی پوری چی نن افغانستان یوله هغو هیوادونو څخه شمیرل کیږي چی په کی د نالوستو کچه ډیره لوړه ده. او دولت هم د کدرونو له جدی کمښت سره مخ دی چی د کدرونو او مسلکی وړتیاوو نه شتون ډیری ننګونی رامنځته کړي.

په ۲۰۰۱ میلادی کال کی د طالبانو د حکومت له پرزیدلو وروسته د موقتی اداری په رامنځته کیدو سره یوشمیر علمی څیری وروسته د عالی تحصیلاتو د ترلاسه کولو څخه په دی هیله چی د افغانستان وضعیت ښه والی مومی او هیواد د سوکالی او پرمختګ په لوري ګام اخلی، هیواد ته راستانه شول ترڅو په لومړیتوب کی د هیواد اکادمیکو اداروته کاروکړي او مثبت بدلونونه رامنځ ته کړي. د افغانستان د اسلامی جمهوریت وروستیوپالیسي پانو د اکادمیکو ادارو د ملاتړاو په دی ادارو کی د نوښت په موخه اوس ډیرمثبت بدلونونه د دغو ادارو د ښه والی په برخه کی را منځته کړي.

سره له دی چی ډیری هڅی شوی چی د لوړو زدکړو وضعیت ښه والی ومومی او د افغانستان اسلامی جمهوریت په دی باره کی ډیری هڅی او کوښښونه په لاره اچولی خو دا سکتورهم د نورو برخو په شان له اداری فساد څخه په امن کی نه دی پاتی شوی او اداری فساد په یوډول په اکادمیکو ادارو کی لاره پرانیستی ده.

### 2.1. په پوهنتونونوکی د داخلی آزموینی د پروسی د وضعیت تحلیل

د هیواد د لوړو زدکړو وزارت لکه نوری حکومتی اداری له یوشمیرننګونوسره مخ دی لکه د وړتیا، امکاناتو او لازمو توکو او وسایلونه شتون یا کمښت او د محصلینو شکایتونوته د رسیدنی د وسایلو نه شتون چی خورا د اهمیت وړ بلل کیږي.د محصلینو بی ساری زیاتوالی، جعل او تزویر، نقل او د پوښتنپانود غلا موکه، او د استاذانو او کارکونکو د بی پروایی موضوع په دغه ادارو کی د آزموینی پروسه د فساد په وړاندی زیانمنه کړی ده. له دی نه علاوه د فساد پراختیا لکه د افغانستان اوسنی امنیتی حالت، د قانون نه حاکمیت، د مکافاتو او مجازاتود اصل په پام کی نه نیول،د مجربو او لوړو زدکړو لرونکو استاذانو نه شتون د یوه منظم اداری سیستم نشتوالی ، غیرموجه نفوذ او فشاراو نوری ستونزی او ننګونی د آزموینی پروسه له خنډسره مخ کړی ده.

### 2.2. په دی پروسه کی د VCA د په لاره اچولو اړتیا

د پوهنتونو د داخلی آزموینی پروسه نه یوازی دا چی له ننګونو سره مخ ده بلکه په ټولو هغو کړنو باندی سیوری اچوی چی د حکومت لخوا د تحصیلی ادارو د پرمختګ او ودی په موخه په پام کی نیول شوي او د درغلیو موکه یی هغه کسانو ته برابره کړی چی په فرصت پسی ګرځی او غواړي پروسه له خنډ سره مخ کړي. دا کارد دی لامل شوی چی د لوړو زدکړو د موسساتو محصلین خپل غږ پورته کړی چی ګواکی د دوی حق تری اخیستل شوی او د یوشمیراستاذانو لخوا دوی له اخلاقی او اداری ناوړه چلند سره مخ دي. د یوشمیرمحصلینو په وینا د اوسنی حاکمی فضا او بیلابیلو لاملونولکه تبعیض، شخصی ګټی په پام کی نیول، له ښځینه محصلینو څخه دیوشمیراستاذانولخوا جنسی غوښتنی، د محصلینوڅخه بډی اخیستل، واسطه، او نور عوامل د آزموینی په پروسه کی د بی عدالتی سبب شوی او یوشمیرمحصلین یی دکدری نمرو د ترلاسه کولو څخه بی برخی کړي دي.

د لوړو زدکړو وزارت دیوی مسوولی مرجع په توګه په دی خاطرچې د اداری فساد له رامنځته کیدو څخه مخنیوی وکړي دوه لایحی، د کریدت سیستم او پخوانی یا زوړسیستم، د آزموینی په برخه کی وضع کړي دي. خو د یادونی وړ ده چې دغه لوایح د کمزورتیاوو د لرلو له امله د دی جوګه نه دی چې په پروسه کی له فساد څخه مخنیوی وکړي.

له دی امله د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه دی پریکړی ته ورسیده چې د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی د پیژندلو لپاره یوه هراړخیزه ارزونه طرحه او په لاره واچوي. او د لوړو زدکړو وزارت او اړونده تحصیلی موسساتو ته تخنیکی او مسلکی سپارښتنی د پروسی د لاښه والی په موخه وړاندی کړي.

### 2.3. د هیواد د لوړو زدکړو د داخلی آزموینی په پروسه کی شاملی اداری

دلوړو زدکړو وزارت د کابل پوهنتون، پولی تخنیک، د ښوونی او روزنی پوهنتون، او د کاردان د عالی تحصیلاتو موسسه هغه اداری دی چې په مستقیم ډول د اداری فساد په وړاندی د آزموینی د پروسی د زیانمننی په برخه کی ترارزونی لاندی نیول شوی دي.

### 2.4. د ارزونی لاندی ساحی (VCA)

د اداری فساد پروړاندی د څارنی او ارزونی د خپلواکه ګډی کمیټی د ارزونی پلاوی له یوی لومړنی ارزونی وروسته، د ارزونی طرحه په پروسه کی د زیانمنلو د پیژندلو په موخه په لاندی څلورو برخوکی چمتو کړي :

- د پروسی اداری او حقوقی چوکاټ
- د پروسی د بشري زیرمو جوړښت
- د پروسی د ریښتینی کړنو لړی
- د اسنادو او پروسی د مالوماتو د مدیریت سیستم

### 2.5. میتودولوژی (VCA)

د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی ارزونی په پروسه کی د فساد د بیلابیلو ډولونو، سرچینو، پایلواو د زیانمنلو د کچی د مالومولو د پیژندلو یوه وسیله ګڼل کیږي. د دی ارزونی اصلی موخه داده چې په کاری پروسه کی ښه والی او په اداره کی سمونونه رامنځته شي. له دی امله د دغی ارزونی پایلی په هیڅ ډول نشي کولای په پروسه کی د ستایلو وړ بنی کړني ترسیوری لاندی ونیسي .

د اداری فساد په وړاندی د زیانمنلو د ارزونی کړنلاره او د مالوماتو ترلاسه کول له دی لاری له عمومی څیړنیزو کړنلارو او تولنیزو څیړنوڅخه توپیرلري او پایلی یی د لیدلوری یا د اکثریت او اقلیت د نظریاتو پربنسټ لاسته نه راځی او ترلاسه شوی پایلی د ایجابی او سلبی ثبوت لپاره د حکمی په نسبت د پروسی د ټولو ترسره شوو کړنو لپاره قطعی حکم نه بلل کیږي. د استدلال او پایلو لاسته راوړلو کړنلاره په دی ارزونه کی د قیاسی کړنلارو پربنسټ په پام کی نه نیول کیږي چې په مختلفو درجوکی د تیروتنی امکانات پکی شتون لری، بلکه په دی ارزونه کی له هغی علمی کړنلاری څخه ګټه اخیستل کیږي چې د دواړو کړنلارو مثبت اړخونه په ځان کی رانغاړی.

#### 2.5.1. د مالوماتو د راټولولو لاره

دی ټکی ته په پام سره چې د ارزونی پلاوی ځانګړی موخه د فساد په وړاندی د زیان منلو، د بیلابیلو ډولونو، سرچینو، پایلواو د زیانمنلو د کچی مالومول دی ، له دی امله دغه پلاوی اړینه ګڼلی چې یوازی له یوه څیړنیزی لاری څخه کاروانخلی بلکه د اړتیا په صورت کی یی له نورو څیړنیزو لارو څخه هم ګټه پورته کړی او له بیلابیلو ممکنه سرچینو څخه یی مالومات راغونډ کړیدی. د د فساد پروړاندی د زیانمننی د ارزونی د ترسره کولو په رڼا کی په ډاګه شوی چې اصلی موخه زیان منیدونکو برخوته لاسرسی ګڼل کیږي چې په پای کی له دی لاری د ارزونی پلاوی په ډاډ

سره ویلی شی چی کومه برخه یا دپروسی کوم پړاو د کوم ډول فساد په وړاندی زیان منونکی دی. د ارزونی پلاوی دی ټکوته په کتوسره د لاندی لارو څخه ګټه اخیستی ده:

1. د رسنیود رپوټونو مطالعه په عمومي توګه
2. په پروسه کی د شاملو کلیدي اشخاصو او چاروکو سره مرکی او خبری اتری
3. د پروسی د اداری او حقوقی اسنادو مطالعه او تحلیل
4. د پروسی اړونده مراجعینو او شاملو کارکونکوسره ځانګړی مرکی
5. د فوکس ګروپونو او ګډو غونډو په لاره اچول
6. د ډلی د غړو ورځنی کتنی

### 2.5.2. په رپوټ کی د مالوماتو د ځای په ځای کولو لاره

ډیره هڅه شوی ترڅو د رپوټ له اوږدولو څخه ډډه وشي. او مالومات داسی په رپوټ کی ځای پرځای شي چی د پایلو اخیستلو پروسه آسانه کړي او د رپوټ له اوږدوالی څخه مخنیوی وشی. له دی امله د قیاس استثنایی او قیاس اقترانی له لارو څخه ګټه پورته شوی چی معمولا پایلی ورسره وي. دغه لاره توانیدلی رپوټ ته عامیانه ژبه ورکړي، او عام او خاص ته رپوټ د ګټی اخیستنی موکه په واک کی ورکړي

### 2.5.3. د مالوماتو د تحلیل او ارزونی لاره

ټول ترلاسه شوی مالومات د زیانمننی د پیژندلو معیارونوته په پام سره راټول شوی او وروسته له کره مطالعی څخه په رپوټ کی ځای پرځای شویدی، او دارتیا په صورت کی تحلیل اوتجزیه شوی دي. دغه لړۍ د بیلابیلو ډولونو، سرچینو، پایلواو د زیانمنلو د کچی د مالوملو یوه وسیله ګڼل کیږي. د دی ارزونی اصلی موخه داده چی په کاری پروسه کی ښه والی او په اداره کی سمون رامنځته شي. له دی امله د دغی ارزونی پایلی په هیڅ ډول نشي کولای په پروسه کی د ستایلو وړ ښی کړنی ترسیوری لاندی ونیسي .

د اداری فساد په وړاندی د زیانمنلو د ارزونی لاره او د مالوماتو ترلاسه کول له دی لاری له عمومی څیرنیزو لارو او تولنیزو څیرنوڅخه توپیرلري او پایلی یی د لیدلوری یا د اکثریت او اقلیت د نظریاتو پربنسټ لاسته نه راځی او ترلاسه شوی پایلی د ایجابی او سلبی ثبوت لپاره د حکمی په نسبت د پروسی د ټولو ترسره شوو فعالیتونولپاره قطعی حکم نه بلل کیږي. د استدلال او پایلو لاسته راوړنی لاری په دی ارزونه کی د قیاسی کړنلارو پربنسټ په پام کی نه نیول کیږي چی په مختلفو درجوکی د تیروتنی امکانات پکی شتون لری، بلکه په دی ارزونه کی له علمی لارو څخه ګټه اخیستل کیږي چی د دواړو لارو مثبت اړخونه پخپل ځان کی رانغاړی.

### 2.5.4. د اداری فساد په وړاندی د زیانمنلو د تشخیص او پیژندلو کړنلاره

د اداری فساد په وړاندی د زیانمننی پیژندنه د اداری فساد سره د مبارزی د قانون د دریمی مادی پربنسټ صورت نیسی: په دی ماده کی لاندی موارد اداري فساد ګڼل کیږي :

۱- بډی ، ۲- اختلاس، ۳- د اسنادو غلاکول ، ۴- د رسمي پاڼو او اسنادو غیررسمی اتلاف، ۵- د قانوني واک له حدودوڅخه تیری، ۶- له وظیفوي موقف څخه ناوړه ګټه اخیستل، ۷- د عدالت د پلی کیدو په بهیرکی خنډ اچول، ۸- په شخصی چاروکی له دولتی امکاناتو او رسمی وختونو څخه ګټه اخیستنه، ۹- له قانونی عذرپرته له دندی څخه ډډه کول، ۱۰- د حقیقت پټول، ۱۱- د شتمنی غیرقانونی زیاتیدل، ۱۲- د سندونو تزویز، ۱۳- د دندی انتحال- دهغو چارو د سرته رسولو او یا ورڅخه ډډه کولو واک چی شخص په هغی نه وی ګومارل شوی، ۱۴- د کار د سرته رسولو یا ورڅخه د ډډی کولو په وړاندی د هرډول تحفی یا ډالی اخیستل، ۱۵- د سپارل شوی دندی په سرته رسولو کی ځنډ، ۱۶- د اداری د اړونده سلوکی قواعدو نه رعایتول۱۷- په ورسپارل شوو چاروکی د قومي، سیمه ایزو، مذهبی، حزبی،

جنسیتی او شخصی ملاحظاتو شاملول، او ۱۸- د اداری فساد سره د مبارزی په تګلاری کی د مندرجه اعمالو سرته رسول او یا ورڅخه ډډه کول.

ټولو اسنادو او مدارکوته په پام سره چی د ارزونی په ترڅ کی لاسته راغلی او د اداری فساد په وړاندی د زیان مننی د پیژندلو معیارونو ته په کتوسره ، د فساد مروج ډولونه، سرچینی او پایلی او د پروسی یا اداری د زیانمننی کچی د معلول له خوا د علت په لور د استدلال د لاری پربنسټ او برعکس پیژندل شوی او دشمیری په اساس له تفصیل سره ذکرشوی دي. همدارنګه باید یادونه وشي چی د دغه ریوټ موندنی د عمومی مالوماتو پربنسټ ولاړی دي چی له مختلفو سرچینوڅخه اخیستل شوي او د کوم شخص په وړاندی د اتهام پآنی یا تورلګونی بنه نلري چی په چا تورولګوي او په دی برخه کی تری استفاده وشي. د ارزونی موخه مالومه ده له دی امله په دی رپوټ کی یی کارول هم اصلاحی اړخ لري چی د ټاکل شوی موخی سره سم تری ګټه پورته کیږي.

### 2.5.5. د سپارښتنود وړاندی کولو لاره

معمولاً د حل له لارو څخه په طبیعی توګه د زیان منلو د له منځه وړلو په موخه د پیژندل شوی زیان مننی د مفهوم خلاف کاراخیستل کیږي. خو په دی رپوټ کی د ارزونی پلاوی یوازی په دی بسنه نه ده کړي چی د زیان منل له منفی نه مثبت یا مثبت نه منفی ته واړوي بلکه له ترلاسه شوو مالوماتو څه په ګټه پورته کولو چی د مرکو په ترڅ کی همدارنګه له نورو لارو ترلاسه شوی، اړونده سپارښتنی هم د پلی کیدنی د اړخ په پام کی نیولوسره له ټاکلی مودی یا ضرب الاجل سره یوځای وړاندی کړي دي.

## 3. د لوړو زدکړو د موسساتو د داخلی آزموینی د پروسی د حقوقی سندونو ارزونه

دیوی پروسی حقوقي چوکاټ ټول حقوقي او اداري سندونه لکه قوانین، مقررات، تقنيني فرمانونه، د وزیرانو د شورا مصوبې، د وزارت د مقام تصویب شوی طرزالعملونه او کړنلاری په ځان کی رانغاړی چی دعامه خدمتونو اړونده ګومارل شوی اداره مکلفيت لري چی ټول د پروسی د پلی کولو په وخت کی په پام کی ونیسي .

د یوه منظم حقوقي چوکاټ شتون چی د کارپه ځانګړو برخوکی ځواب ورکونکی وي کولای شي د پروسی د پلی کولو په لاره کی د یوه لاربنود په توګه وکارول شي او په پروسه کی له فساد څخه مخنیوی وکړي. کله ناکله یوه ډیره کوچنی کمزورتیا د حقوقی چوکاټ په یوه ماده یا یوه توری کی ډیره پیچلتیا او توپیررامنځته کوي چی په پایله کی په پروسه کی د فساد لامل ګرځی، له دی امله قانون جوړونکي مسوولیت لري ترڅو د هرتوري د ایجابی اوسلبی او دمخالفو مفاهیمو ټول اړخونه او په ټولیزه توګه د یوه تقنيني سند د هری مادی مفاهیم او اړونده بنی او بدی پایلی د قانون، مقررى، فرامینو او طرزالعملونو د جوړولو په وخت کی په پام کی ونیسي .

سره له دی چی حقوق پوهان د موضوع د اهمیت په پام کی نیولو سره حقوقي سندونه جوړوي، خود وخت په تیریدو او اداری شرایطو او د استفادی وړ وسایلو ته په کتو سره ترڅود قانوني چوکاټ ټول الزامات پلی شي، همدارنګه د ظرفیت ټیټه کچه او له حقوقي سندونو څخه ناسم درک او نور بهرنی او کورنی عوامل کولای شی حقوقي چوکاټ د قوت د ټکو په لرلو سره سره د اداري فساد په وړاندی زیانمن کړی. پورتني ډیری عوامل د حقوقي چوکاټ د زیان منلو په برخه کی اغیزه لري له دی امله د ارزونی پلاوی سربیره پردی چی د پروسی نور اړخونه یی څیړلی، حقوقي چوکاټ یی هم تر ارزونی لاندی نیولی ترڅوننګونی او د زیان منلو په وړاندی ستونزی په ګوته او وپیژندل شي

### 3.1. د تحصیلی موسساتو د داخلی آزموینی دپروسی د حقوقي چوکاټ په هکله د پوښتن پانی د ځواب ورکونکو نظریات

د حقوقي چوکاټ په اړه ۶ پوښتنې له ۲۴ کسانو سره مطرح شوی چی استاذان، د پوهنتونونو فارغان او د مختلفو کچو کارکونکی پـه کـی شـامل دي چـی د دی لاری د حقوقي او اداری چوکاټ ټول اړخونـه روښـانه شـوی دی. د پوښـتنو د تحلیل او ارزونی سربیره له نورو سرچینو څخه هم مالومـات ترلاسـه شـوی لکـه د ګردی میز د ګډونوالو نظریـات، د حقوقي او اداری سندونومطالعه اوتحليل.




**لومړی شکل:** د ځواب ورکونکو د ځوابونو خلاصه - 3.2 الی 3.7.

### 3.2. د داخلی آزموینی د پروسی حقوقی اسناد

د ارزونی ډلی هڅه کړی ترڅو د داخلی آزموینی په پروسه کی شامل ټول حقوقي او اداری اسناد د اړونده چارواکو په همغږی راټول، مطالعه او تحليل کړي. کوم سندونه چی د پوهنتونونو د داخلی آزموینی د پروسی په اړوند د کارکونکو او چاروکو لخوا د ارزونی د ډلی په واک کی ورکول شوی په لاندی ډول دي.

- د لیسانس دوری لپاره د افغانستان د لوړو زدکړو د موسساتو د کریدت د سیستم لایحه(د مقرراتو مجموعه، د لوړو زدکړو وزارت لوایح او کړنلاری دوهم چاپ د ۱۳۹۰ لمریزکال)
- د لوړو زدکړو د موسساتو د آزموینی لایحه (د مقرراتو مجموعه، د لوړو زدکړو وزارت لوایح او کړنلاری دوهم چاپ د ۱۳۹۰ لمریزکال)
- د لوړو زدکړو وزارت د مشری او د پوهنتونونو د محصلانو د مرستیالانو سره د سمستر ازموینی د کړنلاری او د واحد تحصیلی نصاب په هکله ګډه پریکړه، نیټه ۱۳۹۱ د غوایی شلمه

### 3.3. د پروسی د حقوقي چوکاټ کمزورتیاوی

د نورو سرچینو په ځانګړی توګه مرکه کوونکو د مالوماتوپر بنسټ په پورتنیو حقوقي اسنادوکی ناځرګندوالی او دفساد په وړاندی زیانمن موارد شتون لري چی لاندی ارزول کیږي. یوه ننګونه چی کولای شي د آزموینی په پروسه کی اداری فساد ته موکه برابره کړي د لوایحو او کړنلارو ډیروالی دی. لکه څنګه چی یادونه وشوه اوس مهال دری لایحی د اجرا وړ دي چی په یولړمواردوکی تکرار، ناځرګندوالی، تناقض او په ځانګړی توګه د ساینسی مضامینوله علمی معیارونوسره نه سمون روښانه لیدل کیږي.

### 3.4. د لوړو زدکړو په موسساتوکی د لیسانس د دوری لپاره د کریدت د سیستم لایحه

د ارزونی د ډلی دتحلیل او مطالعی پایلی د دی ښکارندویی کوي چی د کریدت د سیستم لایحه تردیره بریده په پوهنتونونوکی د کریدت د سیستم د تنظیم او مدیریت لپاره ده او د آزموینی په اړه یی هغه شرایط وړاندی کړی چی دکریدت سیستم پربنسټ محصل یی باید مخکی له ازموینی څخه پوره کړی . په ټولیزه توګه لایحه د محتوا له لحاظه ستونزه نلري خو یوشمیرمواد یی په ډیری تحصیلی موسساتوکی د پلی کیدلو وړنه دی. او دلیل یی د پوهنتونونو نه برابریدل دکریدت سیستم سره بلل شوی. د یادولو وړده چی له کلونو راهیسی د لوړو زدکړو وزارت د کریدت سیستم پوهنتونونوته وړپیژندلی خو د مختلفو دلایلو له امله د بیلګی په توګه د کدرونو ښکته وړتیا د دی لامل شوی چی وزارت ونه شی کولای دغه سیستم په ټولوپوهنتونونوکی پلی کړي. اوس په یوشمیرپوهنتونونواو فاکولتوکی د کریدت سیستم دود شوی. او په یوشمیرنوروکی پخوانی سیستم حاکم دی خو هیله ده چی د لوړو زدکړو وزارت د سیستمونو یووالی ته پاملرنه وکړي او یوشان تدریسی سیستم په ټولو تحصیلی فاکولتو، دیپارتمنتونو او تحصیلی موسساتوکی دود کړي.

**د لوړو زدکړو موسساتو د آزموینی لایحه**

د لوړو زدکړو موسساتو د آزموینی لایحه په هغو موسساتو باندی د پلی کیدو وړده چی د کریدت سیستم یی نه وی پلی کړی او له کلاسیک کړندود نه کاراخلي. دغه لایحه اساساً د لوړو زدکړو په موسساتوکی د آزموینی د اخیستلو د معیارونو بنسټ بلل کیږي. لکه څنګه چی یادونه وشوه د دغی لایحی یوشمیرمواد د محتوای له لحاظه ناځرګندوالی لري او د نظروړ پایلی تری نه شی ترلاسه کیدلی.

***د سمستر د پای په ازموینه کی د ګډون کولو شرایط(لومړی چانس):***

1. *هغه محصلین په نهایی ازموینی کی شاملیدی شی چی لږترلږه ۷۵ سلنه په درسی ساعتونوکی حاضرشوی وي*
2. *که چیری محصل د کومی پیښی له امله زیان یا صدمه ووینی او دغه جسمی صدمه د دی لامل شی چی ونه شی کولای په دوامداره توګه درس ته حاضرشي او دحاضری نصاب پوره کړی (لومړی بند چی پورته ذکرشوی) او اړونده پوهنځی هم د شواهدو او اسنادو پربنسټ دغه موضوع تایید کړی په دی صورت کی د علمی شورا د تصویب په اساس د محصل لپاره یو کلن تاجیل محاسبه کیږي.*
3. *که چیری ښځینه محصله د حمل له وجی د حاضری نصاب پوره نکړی د لومړی بند سره سم که چیری پوهنځی خبرتیا ولري اوموضوع ثابته او تایید شوی وي دغه دوړل غیابت د علمی شورا د پریکړی پربنسټ یوکال تاجیل محاسبه کیږي.*
4. *کوم محصلین چی د لومړی او دریم بند له ذکرشوی تاجیل څخه ګټه واخلی د بل تاجیل مستحق نه ګڼل کیږي.*
5. *د لوړو زدکړو د موسسی د شرایطو پوره کول چی له داخلی طرزالعمل سره سم وضع شوی وي.*
*د لوړو زدکړو د موسساتو د آزموینی لایحه*

د بیلګی په توګه د دی سند په ۱۲ ماده کی د وروستی آزموینی لپاره ۷۵ سلنه حاضری د شرط په توګه راغلی، په لومړی بندی کی د دی شرط پوره کیدل ذکرشوی خو په دوهم او دریم بند کی داسی حالات او شرایط ذکرشوی چی غیرعادی بلل کیږي چی کیدای شي د پیښو له امله په ناڅاپي ډول منځ ته راشی. همدارنګه د ښځو حمل چی په دی صورت کی د محصل غیرحاضری چی محصل یی مستحق دی په تاجیل کی حسابیږي. دا په دی معنی ده چی که یو محصل د منلو وړ عذرولري او له ۷۵ سلنی کمه حاضری ورکړي. بیا هم کولای شي په وروستی ازموینه کی برخه واخلی. که چیری زموږ انګیرنه له دی مادی سمه وی دا په دی معنی ده چی د ۷۵ سلنی حاضری معیارد بدلون وړ دی. په دی متن کی یو ګنګوالی شته دی چی اصلی پیغام د لایحی پلی کونکی ته په عادی ډول نشی رسولای.
سربیره پردی د دغی مادی جزیاتو له هدف څخه قسماً انحراف کړی په ځای د دی چی په سمسترکی په وروستیو شرایطو غور وکړی ترډیره بریده یی په تاجیل او غیرحاضری تمرکزکړی چی بلاخره یی ګونګوالی رامنځته کړی.
او په پای کی نه ده روښانه شوی چی له دی استثنااتوڅخه موخه په دی ماده کی د معذورمحصل منل په ازموینه کی بلل کیږي یا که غیرحاضری وکړی غیرحاضري یی په تاجیل کی حسابیږی او دا یوازینی امتیازدی او په ازموینه کی شمولیت نشی ترلاسه کولای.

د دوهم مورد د توجیه کولو(محصل ته د تاجیل امتیاز) په برخه کی باید وویل شي چی داهغه مورد دی چی په دی ماده کی د بحث ځای نلري او انحراف بلل کیږي. دغه انحراف یوازی په همدی دوه بندونوکی محدود نه دی پاتی شوی حتی په څلورم بند کی یی هم یادونه شوی. همدارنګه پنځم بند د تیښتی لار روښانه کړی. په ځای د دی چی وضاحت ورکړی نور شرایط یی د تحصیلی موسسی په غاړه پریښی. چی اوس مهال تحصیلی موسسه کولای شی شرایطوته په کتوسره له دی بند څخه ناوړه ګټه پورته کړي.

**د لوړو زدکړو وزارت د چارواکو او د پوهنتونونو د محصلانو د مرستیالانو د سمسترد ازموینی د کړنلاری او د واحد تحصیلی نصاب په هکله ګډه پریکړه**

دغه سند په حقیقت کی د د لوړو زدکړو وزارت د چاروا کو او د پوهنتونونو د محصلانوچارو د مرستیالانود یو پریکړه لیک بڼه لري چی د یوه ګرنلاری په ډول جوړشوی ، دوزارت مقام لاسلیک کړی او پوهنتونونوته د پلی کیدو په موخه لیږل شوی دی. دغه کړنلاره د دوه نورو پورتنیو ذکرشوو لایحو په پرتله یوه ځانګړتیا لري چی د پلی کیدو ساحه یی دکریدت او کلاسیک سیستمونو باندی محدوده ده. خو دوه نوری لایحی په دوه مختلفو سیستمونوکی د پلی کیدو وړدي. په بل عبارت دغه کړنلاره د دوه نورو لایحو توضیح او د پلی کیدو لاره یي په پوهنتونونوکی روښانه کړی.

سره له دی چی د لوړو زدکړو وزارت دغه سند د متحد المال په توګه صادرکړی، خو داسی ښکاری چی دغه سند کړنلاره نه بلکه پریکړه لیک او د هغه ننګونو یوهراړخیزحل دی چی تحصیلی موسسی د آزموینی د لایحی د پلی

کیدو په برخه کی ورسره مخ دي. د ارزونی د پلی په وینا دغه سند کولای شی دیوشمیرننګونوپه رفع کولو کی مرسته وکړی خو یوه دایمی د حل لاره تراوسه د پوهنتونوپه کچه نه ده په ګوته شوی.

### 3.5. د شته حقوقي چوکاټ د کمزورتیاو په پام کی نیولو سره په پروسه کی د شخصی پریکړو شاملول

کوم مالومات چی له نورو مالوماتی سرچینوڅخه ترلاسه شوی په خاص ډول د مرکه ورکونکونظریات اودپروسی دحقوقی اسنادو ارزونه د دی ښکارندویی کوي چی حقوقي اسناد او کړنلاری کمزورتیاوی لري او اوسنیوشرایطوته ځواب نشی ورکولای له دی امله استاذان شخصی پریکړی کوي. له خپلوسلیقه یی کړنلارو څخه کاراخلی او حقوقی اسناد نه پلي کوي.

### 3.6. په پروسه کی د حقوقي چوکاټ د پلی کولو او په پام کی نیولو څرنګوالی

لاسته راغلی مالومات په ځانګړی ډول د مرکو څخه لاسته راغلی مالومات د دی ښکارندویی کوي چی استاذان خپل ځان مکلف نه ګڼی چی لوایح او کړنلاری د آزموینی په پروسه کی په پام کی ونیسی. سره له دی چی دغه حقوقی اسناد په ټولو پوهنتونونوکی د پلی کیدو وړ دی خو عملی اړخ نه لري او نه پلی کیږي.

لکه څنګه چی مخکی یادونه وشوه د آزموینی په پروسه کی بنسټیزه ستونزه د لوایحو نه پلی کول دي. ډیری مرکه ورکونکو ویلی چی حقوقی اسناد په منظم ډول نه پلی کیږي. اود استاذانو بیلابیلی کړنلاری چی د سمسترډپای په آزموینه کی تری کاراخلی پخپله د دی ښکارندویی کوی چی حقوقی اسناد په پروسه کی په پام کی نه نیول کیږي. د دوی په باورکه چیری حقوقی اسناد په پام کی ونیول شي ټولی آزموینی په یوشان له یوی کړنلاری څخه په استفادی واخیستل شي نو ستونزي به نه لیدل کیږي چی اوس داسی نه ښکاري.

**هغه موارد چی د مرکه ورکونکو له نظرد استاذانو او چارواکو له خوا په پام کی نه نیول کیږي په لاندی ډول یی یادونه کیږی:**

| شمیره | هغه موارد چی د پروسی په لوایحو او اسنادو کی یی وراندوینه شوی خو په عملی توګه نه پلی کیږي. | د پلی کیدو وړ حقوقی/ اداری سند عنوان |
|---|---|---|
| ۱ | **د آزموینی د کمیتی دندی :**<br>۱. د تحصیلی نصاب د پلی کیدو څارنه؛<br>۲. د تدریس شوی پروګرام سره سم د آزموینی د پوښتنود پلی کیدو څخه ډاډ ترلاسه کول<br>۳. د هرمضمون د پوښتنو سمون یا مطابقت د کړنلاری له مندرجه شرایطوسره<br>۴. د آزموینی د اخیستلو په هکله د شکایتونو ارزونه او رفع کول | د سمسترډآزموینی داخیستلو کړنلاره، لومړی ماده د ج بند د آزموینی دکمیتي دندی |
| ۲ | د آزموینی د پوښتنو شمیراو ارزښت:<br>ا. د سمسترد آزموینی د سوالونو شمیر۳۰ – ۴۰ سوالونوته رسیږي یعنی ۲۰ څلورځوابه، ۱۰ نه تر۲۰ پوری تحلیلی، محاسبوي او لنډ سوالونه دی چی د مضمون سره سم په پام کی نیول کیږي.<br>ب. نمری په مساوی ډول ۵۰ سلنه د څلور ځوابه او ۵۰ سلنه نورو تشریحی او تحلیلی سوالونو ته ورکول کیږي. | د سمسترډآزموینی داخیستلو کړنلاره ، پنځمه ماده- د آزموینی د پوښتنو شمیراو ارزښت |
| ۳ | **د آزموینی وخت، د پوښتنو جوړول، د آزموینی مهال ویش او څرنګوالی:**<br>الف- د آزموینی وخت د مضمون په پام کی نیولوسره له ۴۰ تر ۸۰ دقیقوپوری.<br>ر- د ځوابونو کلی د اړونده دیپارتمنت له خوا جوړیږي.<br>ز- د آزموینی وروستی پایلی د محصلینو د شمیرپه پام کی نیولوسره لږترلږه دری ورځی وروسته اعلانیږي. | د سمسترډآزموینی داخیستلو کړنلاره، شپږمه ماده: د آزموینی وخت، د پوښتنو جوړول، د آزموینی مهال ویش او څرنګوالی |
| ۴ | د آزموینی خوندیتوب:<br>ب- په هر پوهنځی یا تحصیلی موسسه کی باید یوه خونه د آزموینی کمیتی ته ځانګړی شي.<br>ذ- ټول استاذان باید پارچی په یاده خونه کی وګوری او کورته د وړلو حق نلري. | د سمسترډآزموینی داخیستلو کړنلاره ، اوومه ماده – د آزموینی خوندیتوب |

| | | |
|---|---|---|
| ۵ | اتمه ماده: د تدریس کړنلاره او تعلیمی نصاب:<br>۴. لکچرونه باید د پاورپاینټ په ډول(۸-۵ معیاری صفحی) جوړ او په یوه درسی ساعت کی وړاندی شي او له نوټ ورکولو څخه دی ډډه وشي. | د سمستردآزموینی داخیستلو کړنلاره ، اتمه ماده: د تدریس کړنلاره او تعلیمی نصاب |
| ۶ | د منځنی سمسترد آزموینی د اخیستلو څرنګوالی:<br>۱- د هرمضمون لپاره د سمسترپه منځ کی یوه آزموینه(وسط سمستر) اخیستل کیږي.<br>۲- که چیری محصل د وسط سمسترپه ازموینه کی غایب وي دوهم چانس ورکول کیږي خو نمره یی له ۷۰ سلنی څخه حسابیږي. | د لوړو زدکړو د موسساتو د آزموینی لایحه<br>اتمه ماده: د منځنی سمسترد آزموینی د اخیستلو څرنګوالی |
| ۷ | **د هرمضمون نمری :**<br>۴. د وروستی آزموینی نمری د دغه مضمون د ټولو نمرو له مجموع څخه باید له ۶۰ کمی او له ۷۰ زیاتی نه وي. ۴۰-۳۰ سلنه نمری د دغه لایحی د نورو آزموینی لپاره ځانګړی شوی دي. | د لوړو زدکړو د موسساتو د آزموینی لایحه<br>څوارلسمه ماده د هرمضمون نمری په لاندی ډول ورکول کیږي. |
| ۸ | په آزموینی کی له نقل، تقلب او د نظم له اخلال سره چلند:<br>۱. نقل کول، په آزموینه کی خبری کول یا تحریری نقل ورکول، د پارچی بدلول، د کتاب وړل او تری استفاده کول او پرته له اجازی د یادښتونو او پانو کارول او د آزموینی د نظم له منځه وړل د دی لامل کیږي چی محصل د صفرنمره ترلاسه کړي. | د لوړو زدکړو د موسساتو د آزموینی لایحه<br>یوویشتمه ماده: په آزموینی کی له نقل، تقلب او د نظم له اخلال سره چلند |
| ۹ | د وروستی آزموینی په پایلو د بیاکتنی څرنګوالی:<br>۲. که چیری یو محصل له وروستیو پایلو یا نتایجوخوښ نه وی او غواړی پارچه یی بیا وکتل شی باید په کتبی ډول تر دریو ورځوپوری وروسته د پایلو له اعلان څخه خپل غوښتنلیک اړونده پوهنځی ته وړاندی کړی.<br>۳. د پارچی بیاکتنه د آزموینی د کمیټی لخواد اړونده مضمون د استاذ او محصل په حضورکی ترسره کیږي او د دغی کمیټی پریکړه نهایی ده | د لوړو زدکړو د موسساتو د آزموینی لایحه<br>دوه ویشتمه ماده: د وروستی آزموینی په پایلو د بیاکتنی څرنګوالی. |

## 3.7. د پروسی د حقوقي چوکاټ د پلی کولو الزامیت

د مرکه کونکو له لیدلوری او له نورو مالوماتی سرچینو څخه ترلاسه شوی مالومات ښیی چی په ظاهرکی ټول حقوقی اسناد د پلی کولو الزامیت لري. خو یوشمیر استثنایی مواردو کی د بیلابیلو دلایلو له امله د حقوقي چوکاټ د پلی کولو په وړاندی خنډ رامنځته شوی .ترڅو مسوول مدیران په پروسه کی د چوکاټ له پلی کیدو څارنه ونکړی او نرمښت ښکاره کړي.

## 3.8. د پروسی د حقوقي اسنادو زیانمننه

د ارزونی ډلی وروسته له مطالعی او تحلیل څخه دی پایلی ته رسیدلی چی په دی برخه کی په لیکلی ډول دری سندونه شتون لري چی د پلی کیدو وړ دي: ۱- د لوړو زدکړو د موسساتود آزموینی لایحه ۲- د لوړو زدکړو د موسساتو لپاره د کریدت لایحه ۳- د وروستی سمسترد آزموینی کړنلاره چی په ټول هیواد کی باید اصولا پلی شي. په دغه سندونوکی زیانمن ټکی د مطالعی، تحلیل، او د مرکه ورکونکود مرکواو نورو مالوماتو څخه په لاس راغلي په لاندی ډول دی:

- ✓ د لوړو زدکړو قانون له کلونو راهیسی په پارلمان کی د پوهنتون او دانشګاه او پوهنیاراو انشیار د کلمی قربانی شوی چی دا لړی لاهم روانه ده او هیڅ کومه مرجع تراوسه نه ده توانیدلی چی له ملی شورا وغواړی چی دی قانون ته لومړیتوب ورکړي او تصویب یی کړي. له دی امله دلوړو زدکړو د قانون نه شتون د فساد په وړاندی د زیانمنلو اصلی لامل ګڼل کیږي.
- ✓ د هیواد په پوهنتونوکی بیلابیل درسی نصابونه شتون لري او وزارت تراوسه نه دی توانیدلی یوواحد سیستم جوړکړي د بیلګی په توګه په یوه فاکولته کی دکریدت سیستم حاکم دی او په بله کی پخوانی سیستم چلیږي.

- ✓ د درسی سیستم زیاتوالی د حقوقی اسنادو د ډیروالی له امله لکه څنګه چی مخکی یادونه وشوه دری کاری کړنلاری شتون لري چی له یوی خوا د فساد لپاره موکه برابروي له بلی خوا تحصیلی موسسی له ستونزوسره مخ کوي.
- ✓ د آزموینی د پروسی د کړنلارو او لوایحو په پلی کوونکی میکانیزم کی کمزورتیاوی شتون لري چی د حقوقی سندونو د اغیزمن پلی کولو په وړاندی خنډ ګرځي.
- ✓ د اسنادو زیاتوالی د آزموینی دکارکونکو او استاذانو لپاره د بی پروایی او له مسوولیته د تیښتی موکه برابروي چی موجوده کړنلاری یا حقوقی سندونه پلی نشي.
- ✓ د وزارت په لوایحو او کړنلارو کی د آزموینی د پروسی د پلی کولو د رونوالی په اړه داسی موارد لیدل شوی چی روښانه نه دی او تفسیرته اړتیا لري چی د پلی کولو په جریان کی ننګونی رامنځته کوي. او په اوږدمهال کی د آزموینی پروسه د فساد په وړاندی زیانمنوي.
- ✓ د چارواکو لخوا د حقوقی سندونو د پلی کولو د څارنی نه شتون استاذانوته داسی لیدلوری ورکوي چی ګواکی دغه اسناد د پلی کولو الزامیت نلري
- ✓ د وزارت او د پوهنتونونو د چارواکو لخوا د مکافاتو او مجازاتو د اصل نه پلی کول او استاذانوته بی ساری خپلواکی ورکول یا په بل عبارت د قانون په وړاندی بښنه د دی لامل شوی چی یوشمیراستاذان قانون مات کړي او له دی موکی څخه ناوړه ګټه پورته کړي.

## 3.9. سپارښتنی

د اداری فساد د ناوړه پایلو څخه د مخنیوی په موخه د لوړو زدکړو وزارت مکلفیت لري ترڅو د آزموینی د پروسي د حقوقی چوکاټ په برخه کی له پوهنتونونوسره په همغږي کی لاندی موارد په ټاکلی وخت کی په پام کی ونیسي او پلی یی کړي.

أ. د افغانستان د اسلامی جمهوریت ملی شورا باید د لوړو زدکړو وزارت قانون د دغه قانون د اهمیت په پام کی نیولوسره په لومړیتوب کی ونیسي او تصویب یی کړی

- **د اجرا مسووله مرجع :** ملی شورا
- **څارونکی مرجع :** د لوړو زدکړو وزارت
- **ضرب الاجل:** د دغه ریوټ له خپریدلو دوه میاشتی وروسته

ب. د لوړو زدکړو وزارت باید له پوهنتونوسره په مشوره درسی نظام په ټولو تحصیلی موسسوکی یوشان کړی او دکریدت سیستم ټولو پوهنتونونو ته ورویږنی.

- **مسووله اداره / څانګه :** د لوړو زدکړو وزارت
- **ضرب الاجل:** د دغه ریوټ له خپریدلو یوکال وروسته

ج. د لوړو زدکړو وزارت په دی خاطرچی په تحصیلی موسساتو او پوهنتونونوکی له انارشیزم څخه مخنیوی وشی ټول حقوقی سندونه باید وګوری تشی او کمزورتیاوی یی له پوهنتونونوسره په ګډه اصلاح او د لوړو زدکړو د قانون ترتوشیح او دکریدت سیستم تریږندلو پوری دی پلی کړی او له پلی کیدو څخه دي جدی څارنه وکړي.

- **مسووله اداره / څانګه :** د لوړو زدکړو وزارت/ د اکادمیکو چارو د انسجام ریاست
- **ضرب الاجل:** د ریوټ له خپریدلو څلورمیاشتی وروسته

د. پوهنتونونه باید په دی خاطرچی نظم تامین شی او اصول اومقررات پلی شي اخلالونکی څیری وپیژنی او له وزارت سره په همغږی کی د مجازاتو او مکافاتو اصل دیوه اداری اصل په توګه پلی کړی او په دی برخه کی دی عملی ګامونه پورته کړی او څوک چی سرغړونه کوي تادیب دی کړي.

- **مسوله اداره/څانګه:** پوهنتونونه، د لوړو زدکړو موسسی له وزارت سره په همغږي کي.
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو وروسته- دوامداره

## 4. د داخلی امتحاناتو په پروسه کی د تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینو ارزونه

تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینی د یوه سازمان ترټولومهمه برخه ده چی د لازمو وسایلو او تجهیزاتو، مهارتونو ، مادی او معنوی امکاناتو، صداقت، کاری موکو، ژمنتیا په لرلو سره د پلان شوو کړنو د ترسره کولو او د سازمان د موخو د ترلاسه کولو او همدارنګه د حقوقی چوکاټ او کاری دستوراالعمل د په پام کی نیولوسره منځ ته راځي. د تشکیلاتي جوړښت او انسانی سرچینو اغیزمنتیا د انسانی سرچینو د سالمو بنسټونو په موجودیت پوری تړاولري چی مهارت، ژمنتیا او نوښت ولري، همدارنګه حقوقي معیاری چوکاټ، قوي سیاسی ملاتړ، کړنلاری او تګلاری، سم کاري چاپیریال او وسایل، د کاری ساحی سره تړلی د دندو لایحه، منظم پروګرام لرل، او سالمه رهبري او مدیریت پوری هم تړلی دي.

البته د تحصیلی موسسوپه برخه کی متخصص کدرونه، تکره استاذان چی لوړی زدکړی ولري د تشکیل په سوق او استقامت ورکولوکی مهم او رغنده رول لوبوي. ځکه پرته له متخصصو او وړتیالرونکو استاذانو او شخصیتونو تحصیلی موسسات او نورعلمی بنسټونه مخته نه شی تللی. په دی خاطرچی د لوړو زدکړو موسسی لازم کیفیت څخه برخمنی شی باید په معیاربرابر، تجربه لرونکی او ماهره استاذان ولري.

له دی کبله په دغه ارزونه کی یوه مهمه برخه چی ارزول شوی انسانی سرچینی او تشکیلاتی جوړښت دی ترڅو کمزورتیاوی، زیانمنني او نوری تشی د انسانی سرچینو او د پروسی د تشکیلاتی جوړښت په برخه کی وپیژندل شي او لازم تدابیر د پروسی د ښه والی په موخه ترلاس لاندی ونیول شي.

په دی برخه کی د ارزونی لومړنی پایلی ښیی چی یولړبنسټونه لکه حقوقي چوکاټ، تشکیلاتی جوړښت، د دندو لایحه(د استاذانو او اداری اوخدماتی کارکونکولپاره)، انسانی سرچینی او د کاروسایل قسماً شتون لري. خو د اړونده پالیسی او ستراتیژي، دکاری دستوراالعمل، قوي سیاسی ملاتړ، او کاری پروګرام نه شتون او د سالم مدیریت او رهبریت نشتوالی په بیلابیلو برخوکی ټول د دی لامل شوی چی د لوړو زدکړو وزارت د آزموینی په پروسه کی د کارکونکواو استاذانو فعالیتونه او کړنی ډیره اغیزمنتیا ونلري.

### 4.1. د ځواب ورکونکو نظریات د انسانی سرچینو(استاذان) او تشکیلاتي جوړښت په هکله

په دی خاطرچی په پروسه کی زیان مننی وپیژندل شي ۷ پوښتنی له ۲۴ تنوسره مطرح شوی چی د اړونده څانګو مامورین ، استاذان او د پوهنتونونو فارغین په کی شامل دی. د دی ځوابونو د کتنی او ارزونی او د مرکه کونکود خبرو د دقیق تحلیل او د نورو اسنادو له کتنی وروسته کولای شو په پروسه کی زیانمنني وپیژنو.




**دوهم شکل:** د مرکه ورکونکو ځوابونه 4.2 الی 4.7

### 4.2. په پوهنتونونو کی د کافی استاذانو موجودیت

د دی پوښتنی په ځواب کی له ټولو ۲۴ کسانو څخه اتلس تنو باوردرلود چی پوره او کفایت لرونکی انسانی سرچینی شتون لری. او پنځه تنه بیا په دی نظرول چی د تشکیل او اړتیا سره سمی انسانی سرچینی شتون نلری. پاتی یوه تن زیاته کړه چی پوره مالومات نلري. خو کوم څه چی له نورو مالوماتی سرچینوترلاسه شوی د دی ښکارندویی کوی چی په پوهنتونونوکی(په هغوکی چی دکریډټ سیستم پلی دی) د استاذانو موجوده تشکیل د اړتیاوو ځواب ورکونکی نه دی له دی امله یولړګډوډی او بی نظمی د کریدت د سیستم په پلی کولو کی لیدل کیږي چی محصلین اړایستل کیږي چی پرته له خپلی خوښی څخه دیوه مضمون لپاره خپل نوم ولیکي حال دا چی د کریدت په سیستم کی محصل باید په خپله خوښه مضمون له استاذ څخه واخلي.

### 4.3. د تحصیلي موسساتو د استاذانو پوهه او تجربه

د دی پوښتنی په ځواب کی چی دتحصیلی موسسو استاذان پوره تجربه او پوهه لري چی خپل مسوولیتونه په ښه توګه ترسره کړي؟ د ټولو ۲۴ کسانو له جملی څخه ۱۳ تنو مثبت نظرورکړی او د استاذانو له پوهی او تجربی څخه یی خوښی څرګنده کړی، سره له دی چی ډیري استاذان لیسانسه دی خو د دوکتورا او ماستری لرونکی استاذان هم شتون لري. اته تنو مرکه ورکونکو ویلی چی د استاذانو اوکارکونکو تجربه د اندیښنی وړ ده.او ډیری کارکونکی په پروسه کی لازمه تجربه او پوهه نلري. د دوی په باورنه یوازی د استاذانو پوهه او تجربه له غوښتنو اوشرایطوسره سمون نلري بلکه یوشمیریی په پخوانیو کړنلارو هم د تدریس وړتیا نلري. د دوی په وینا د استاذانو ښکته وړتیا په پوهنتونونوکی د علمی بنسټونو باور راکم کړی دي.

سربیره پردی مرکه کونکو د استاذانو له چلند، درسی کړنلارو او درسی موادو شکایت درلود. هغوی په دی باورول چی د استاذانو درسی مواد د لسوکلونو راهیسی هیڅ بدلون نه دی موندلی. یوه مرکه کونکی د مرکی په ترڅ کی ویلی چی د استاذانو چلند او د سواد کچه معیاری او د منلو وړ نه ده. درسی مواد خورا زاړه دی او د ګاونډیو ملکونو له پوهنتونونوسره د پرتلی وړ نه دي. د ډیری استاذانو درسی چپترونه له شپږو کلونوراهیسی یوشان دي او هیڅ توپیریی نه دی کړی. یعنی چی د قران ټکی دي چی باید ثابت وساتل شي. اوبله ستونزه چی اشاره ورته شوی د استاذانو د تخصص نه لرل، د مرکه ورکونکو په وینا ډیراستاذان د خپل تخصص خلاف په هغو دیپارتمنتونوکی تدریس کوی چی د دوی له مسلکی رشتی سره توپیرلري. له دی سره سره مرکه کونکو د تکړه استاذانوله شتون څخه هم یادونه کړي خو شمیریی ډیرکم ښودلی.

**یادښت:** په دی بحث کی اصلی محور استاذان ول له دی امله ډیری مرکه ورکونکو ځواب په استاذانوپوری اړوند ورکاوه او د کارکونکو وضعیت د دیپلوم د پروسی په راپورکی له تفصیلاتو سره وړاندی شوی.

### 4.4. د استاذانو لپاره د دندو د لایحی شتون

د دی پوښتنی په ځواب کی چی دتحصیلی موسسو استاذان د دندو لایحه لري که نه ؟ د ټولو ۲۴ کسانو له جملی څخه ۲۳ تنو مثبت نظرورکړی او د استاذانو لپاره یی د لایحی شتون تایید کړی. او یوه تن بی خبری ښودلی ده. یوشمیرځواب ورکونکوویلي چی استاذان د دندو لایحه لری چی دهغوی ټول واک او مسولیتونه په کی نغښتی دي. خو یوشمیرنورو ځواب ورکونکو بیا زیاته کړی چی استاذان د دندو لایحه نلري خو ټولی کړنی او دندی یی د لوړو زدکړو د وزارت په مقرراتوکی ذکرشوی دي چی مکلف دي په پام کی یی ونیسي. په هرصورت کوم څه چی ډیرارزښت لري د استاذانو د دندو او واک ټاکل دي.

**ب/4: له محصلینو سره د استاذانو مسلکی چلند**

د دی پوښتنی په ځواب کی ۲۴ کسانو ځواب ورکړی چی د ۱۴ تنو ځواب مثبت وو او د استاذانو ښه چلند یی تایید کړی خو لس تنو منفی نظردرلود او د استاذانو له چلنده یی سرټکاوه. اکثره مرکه ورکونکو د استاذانو له چلنده سرټکولی او شکایت یی کړی او د دوی په وینا لکه څنګه چی طمعه کیږي په اکادمیک چاپیریال کی استاذان له محصلینوسره سم چلند نه کوي. او دیو استاذ او اداری کارکونکی د چلند ترمنځ باید توپیرموجود وي چی چندان نه په سترګو کیږي.

د ځواب ورکونکو په باوراستاذان په صنف کی محصل ته د بحث او سوال وخت نه ورکوي. د ډیرسخت مدیریت او چلند له لاری هڅه کوی محصلین غلی او ارامه وساتي. یوشمیرځواب ورکونکوویلی چی یوشمیراستاذان دیکتاتوري کوي. له محصلینوسره ناوړه چلند فزیکی تاوتریخوالی او تبعیض کوي. ځواب ورکونکو د تکره او ښو استاذانو یادونه هم کړی خو شمیریی محدود ښودل شوی. البته د تحصیلی موسساتو مشرانو ویلی چی شاګرد محوری حاکمه ده خو واقعیت د دی ادعا خلاف دي .خو له دی سره سره استثنات شتون لري.

## 4.5. تدریس ته د استاذانو لیوالتیا

دغه پوښتنه له ۲۴ کسانو څخه پوښتل شوی ده له دی ډلی ۱۷ تنو په یو ډول مثبت ځواب ورکړی او د استاذانولیوالتیایی له تدریس او خپلی دندی سره ښودلی ده حال دا چی ۶تنو په دی اړه منفی نظروړاندی کړی او د استاذانو لیوالتیا یی له خپلو دنده سره کمزوری ګڼلی ده اویوه کس ویلی دی چی په دی اړه مالومات نلري. ترکومه ځایه چی د نورو سرچینو مالومات ښیی سره له دی چی له خپل کارسره تریوه بریده لیوالتیا لري خو د دی په څنګ کی خپل نورشخصی کارونه او نوری دولتی دندی هم مخ ته بیایی. چی دا کار ددی لامل شوی چی له څیرنی او مطالعی لري پاتی شي له همدی امله په خپلولکچرنوټونو کی کوم نوښت نلري او له کلونو راهیسی یولکچرنوټ زده کونکوته وړاندی کوي.

## 4.6. د استاذانو رښتینولی

د ۲۴ مرکه کونکو له جملی څخه اته تنو د دی پوښتنی په ځواب کی چي: ایا استاذان د دندی په ترسره کولو کی رښتینی دی؟ مثبت نظر ښکاره کړی، دوه تنو منفی نظرورکړی او ۱۴ تنو د ملحوظاتو له امله بی خبری ښودلي. البته مرکه کونکو ویلی چی استاذان سخت ګیردی، د تدریس فضا تړلی او محصل محورنه دي او استاذان هم په پخوانیو لکچرنوټونو باندی تکیه کوی او تدریس ته پوره تیاری نه نیسي.

## 4.7. استاذان د خپلو غیراخلاقی غوښتنودپوره کولولپاره له آزموینی څخه ناوړه ګټه اخلی

د دی پوښتنی په ځواب کی ۲۴ مرکه کونکوځواب ورکړی. چی څلوروتنوویلی استاذان ډیرښه اخلاق لري او له محصلینوڅخه هیڅکله ناوړه غوښتنی نه کوي. خو دریو تنو نورو مرکه ورکونکوویلی چی استاذان له آزموینی څخه د خپلو غیراخلاقی غوښتنو د پوره کولو لپاره کاراخلی. او له دی منځه ۱۷ تنو بی خبری ښودلی. له نورو سرچینو څخه ترلاسه شوی مالومات ښیی چی له آزموینی څخه ناوړه ګټه اخیستل که شتون هم ولری یوازی په غیراخلاقی غوښتنوپوری محدودی نه دی. خو ډیري ځواب ورکونکوویلی چی د غیراخلاقی غوښتنولپاره د آزموینی څخه ګټه اخیستل عمومیت نلري.

## 4.8. د تحصیلی موسساتو په تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینوکی د فساد په وړاندی زیانمنتې

د ارزونی ډلی د مالوماتو له مطالعی او تحلیل څخه وروسته د آزموینی د پروسی زیان مننی د فساد په وړاندی پیژندلی دي. د انسانی سرچینو او تشکیلاتی جوړښت په برخه کی زیان مننی له لازمو سپارښتنوسره په لاندی ډول دی.

- ✓ په تحصیلی موسسو کی د تشکیل کمبنت لیدل کیږي په ځانګړی توګه هغه موسسې چې دکریدت سیستم پر بنسټ خپلې چارې پر مخ بیایی. دا کارد دی لامل شوی چې له یوی خوا موجوده استاذانوته د درس حجم زیات شي له بلی خوا غیرمسلکی مضامین هم تدریس کړي.
- ✓ د لیسانس د دوری د فارغانود ګمارنې پالیسی د دی لامل شوی چې هغه په سلګونو افغانان چې د باندی او دننه په هیواد کی د دوکتورا او ماستری زدکړی لری دولتی پوهنتونونوته جذب نشي ځکه د ماستری نمره له لیسانس څخه اوچته ده.
- ✓ موندنې ښیی چې په پوهنتونونوکی د استاذانو د تخصصی او مسلکی وړتیا کمزورتیا او دهغوی نه بلدتیا له نوو او مدرنو تدریسی کړنلارو سره،او د تدریس لپاره تیاری نه نیول د دی لامل شوی چې محصلین د استاذانو په وړاندی کینه ونیسی او ناخوښه شي.
- ✓ یوه جدی ننګونه چې د لوړو زدکړو په وزارت کی لیدل شوی د کدری او اداری پوستونو اختلاط ګڼل کیږي. یو استاذ په ورته وخت کی چې استاذ دی باید څیرنیز او علمی کارونه هم پر مخ بوځی او د ملکی خدمتونو په یوپوست کی هم دنده ترسره کړی. یعنی دوه ایندوانی په یو لاس کی نیسی. چې دا د تدریس کیفیت کمزوری کوي.
- ✓ د ارزوني له موندنو پر بنسټ د لوړو زدکړو وزارت د یوشمیرریسانو او چارواکو چلند له مراجعینوسره د قناعت وړنه دی. یوشمیرریسان له یو خوا د تدریس دنده لری له بلی خوا په اداری برخه کی کارونه له یوی نه بلی ورځی ته ځنډوی چی داکار په خپل وارد بدو اخیستلو ته موکه برابروي.

## 4.9. سپارښتنی :

د پورتنیو زیانمننو په پام کی نیولو سره چې د تشکیلاتی جوړښت او انسانی سرچینو په برخه کی شتون لري د لوړو زدکړو وزارت او اړونده تحصیلی موسسی مکلفیت لری ترڅو د د زیانمنو برخو د سمون لپاره لاندی موارد په پام کی ونیسی او لازمی کړنی ترسره کړي.

أ. د تشکیل کمبنت کیدای شی ادعا یا واقعیت وي. په هرحال دا کاریوی کره ارزونی ته د کریدت د سیستم د پلی کولو لپاره اړتیا لري. ترڅو د تحصیلی موسسو اړتیاوی پوره کړي. او وزارت وکولای شي واقعیتونوته په کتوسره د موسسو د استاذانو د اړتیا د پوره کولو لپاره لازمی او اغیزمنی کړنی تسره کړي. له دی امله د لوړو زدکړو وزارت باید یوه ارزونه په لاره واچوی او د ارزونی د موندنو سره سم د تحصیلی موسساتو د استاذانوکمبنت رفع کړي.

- مسووله اداره یا شعبه : د لوړو زدکړو وزارت ، پوهنتونونه، دمالیی وزارت
- ضرب الاجل: د رپوټ له خپریدلودوه میاشتي وروسته

ب. د لوړو زدکړو وزارت باید په تحصیلی موسساتوکی د استاذانو د ګمارنې شرایطوته بیا کتنه وکړي او هغه کسان په لومړیتوب کی ونیسی چې دوکتورا او ماستری لري. همدارنګه د ماستری نمری د استاذی لپاره د لیسانس په پرتله کمی کړي او د امکان تربریده د لیسانس ګمارنه د استاذ په توګه راکمه کړي.

- **مسووله اداره یا شعبه :** د لوړو زدکړو وزارت
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو شپږمیاشتی وروسته

ج. د لوړو زدکړو وزارت باید له تحصیلی موسساتو سره په همغږی کي هغه استادان چې لیسانسه دی د ماستری لپاره د موجوده کړنلاری په نظر کی نیولو سره ولیږي.

- مسووله اداره یا شعبه : د لوړو زدکړو وزارت او پوهنتونونه

- ضرب الاجل: د رپوټ له خپریدلو وروسته – دوامداره

د. د پوهنتون په کچه اکادمیک فعالیتونه څنګه چی باید موجود وی شتون نلري. نوځکه باید د وړتیا د ودی لپاره موکه برابره شي او استاذانوته علمی ځانګړی مکلفیتونه د خپل تخصص په رڼا کی ورکړل شي ترڅو له یوی خوا وړتیا یی اغیزمنه وده وکړي او له بلی خوا په تخصصی برخه کی عملی کړنی ترسره کړي.

- مسووله اداره یا شعبه : د لوړو زدکړو وزارت او پوهنتونونه
- ضرب الاجل: د رپوټ له خپریدلو وروسته – دوامداره

ه. د لوړو زدکړو وزارت د تحصیلی موسساتوسره په همغږی کی باید اکادمیک پوستونه له اداری پوستونو څخه په لنډ فرصت کی بیل کړي. او له دی برسیره هغه استاذان یا ریسان چی هم تدریس کوی او هم په ادرای پوست کی دنده لري باید یوه دنده تری واخیستل شي.

- مسووله اداره یا شعبه : د لوړو زدکړو وزارت
- ضرب الاجل: د رپوټ له خپریدلودری میاشتی وروسته

و. د لوړو زدکړو وزارت چاراوکی مکلفیت لری ترڅود استاذانو د کنترول او سم مدیریت په موخه له هغو استاذانوسره چی د اداری او تدریس اخلاق او اصول په پام کی نه نیسی او محصلین زوروي جدی چلند وکړی او تادیبی اقدامات ترلاس لاندی ونیسي.

- مسووله اداره یا شعبه : د لوړو زدکړو وزارت
- ضرب الاجل: د رپوټ له خپریدلو دری میاشتی وروسته

## 5. د تحصیلی موسساتود داخلی آزموینی په پروسه کی د ربښتینو کړنو ارزونه

د داخلی ازموینی په پروسه کی د حقیقی کړنو څخه موخه داده چی د دغی پروسی پیل او پای د وړاندی شوو معیارونو او حقوقي چوکاټ پربنسټ صورت وموميي ترڅو د فساد ډولونه، سرچینی، اود اداری فساد کچه او د فساد په وړاندی زیانمننه چی د عدالت د رامنځته کولو په وړاندی خنډ ګرځی وپیژندل شي او لازمی سپارښتنی د دغی پروسی د کړنو د لاښه والی په موخه د اداری اصلاحاتو او ملکی خدمتونو د خپلواک کمیسیون د مادی او تخنیکی وړتیا او اوسنی وضعیت په پام کی نیولوسره وړاندی شي.

مخکی له دی نه چی په دی اړه د ځواب ورکونکونظریاتوته پاملرنه وکړو، لاندی په پروسه کی په مستند ډول هغه مالومات چی د ځانګړو مالوماتو د مطالعی او ارزونی څخه را اخیستل شوی همدارنګه د کارکونکو سره د مرکو په ترڅ کی ترلاسه شوی وړاندی کیږي.

### 5.1 د تحصیلی موسسو د آزموینی په پروسه کی تثبیت شوی پراوونه

د داخلی ازموینی د پروسی پراوونه په لاندی ډول پیژندل شوی چی ټول هغه ربښتونی فعالیتونه او کړنی په ځان کی رانغاړی چی عملا د د داخلی ازموینو په پروسه کی د پلی کولو وړ دي. کوم څه چی په لاندی جدول کی یی انعکاس موندلی دهغو کړنو ښکارندویی کوي چی استاذان یی ترسره کوي او له استاذانوسره د ځانګړو مرکو له لاری ترلاسه شوي دي. البته هڅه شوی چی یو بشپړپروسس شوی سند ترلاسه شي ترڅو ټول پړاوونه په ځان کی راونغاړی. خو داسنادو د محرمیت له امله موږ ونشوکولای یاد سند تر لاسه کړو او په دوه مرکو مو بسنه کړی ده. له دی امله هغه مالوماتو چی په لاندی جدول کی انعکاس موندلی دهغو کړنو ښکارندویی کوي چی په حقیقت کی ترسره شوی او هیڅ ډول زیاتی په کی نه لیدل کیږي. د آزموینی د پروسی د پراوونوجدول لومړی مل ته مراجعه وکړی.

**په لاندی جدول کی د آزموینی دپروسی ترټولو زیانمن پراوونه د ترلاسه شوو مالوماتو پر بنسټ کتلی شی.**

| شمیره | د پروسی مرحلی | د هری مرحلی پړاوونه | د زیانمننی درجه (۵-۱)<br>(۱= شدید ، ۵= ضعیف) | | کتنی |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پوهنتون په کچه تیاری نیول | ۶ | ۵ | پنځمه درجه | د آزموینی دپروسی ترټولوزیانمن پړاوونه د ترلاسه شوو مالوماتوپر بنسټ په پوښتنپانه کی درجه بندی شوی. |
| ۲ | د فاکولتوپه کچه د آزموینی د کمیټی ټاکل او د مهالویش جوړول | ۷ | ۵ | پنځمه درجه | |
| ۳ | اداري تیاری | ۶ | ۴ | څلورمه درجه | |
| ۴ | د آزموینی اخیستل | ۶ | ۱ | لومړی درجه | |
| ۵ | نمری ورکول او د پایلو اعلانول | ۴ | ۱ | لومړی درجه | |
| ۶ | د محصلینو شکایتونوته رسیدنه | ۶ | ۲ | دوهمه درجه | |
| ۷ | د نمرو ثبتول په اړوند کتاب کی | ۳ | ۳ | دریمه درجه | |
| **د احتمالی زیان ډولونه** | د بدو اخیستلو، نفوذ او په اسنادو کی د جعل او تزویر وړاندوینه | | | | |
| **یادښت:** پورتنی درجی له ۵-۱ پوری د زیانمننی شدت بیانوي. ۱= شدید زیانمنل و ۵= د زیانمنلو احتمال صفرته نږدی دی. همدارنګه رنګونه هم د زیانمننی سلنه ښیی لکه نارنجی ۲۵٪ تیاره رنګ په ترتیب تر ۸۰٪ روښانه غوره شوی. | | | | | |

### د پورتنی جدول پايلی:

د يادولو وړ ده چې دغه پروسه د آزموينی د پروسی د حقوقی اسنادو له معياورنو سره سمون لری.خو اصلی ننګونه داده چې په عمل کی دا حقوقی اسناد په پام کی نه نيول کيږی. استاذان څو پوښتنی په قلم په يوه پاڼه کی ليکي اوله محصلينوڅخه آزموينه اخلي.

## 5.2. د ځواب ورکونکو او نورو سرچينو څخه لاسته راغلی مالومات

د پوهنتونونو د داخلی آزموينی د پروسی پرمستندولو سربيره چې د له استاذانو سره د ځانګړو مرکو له لاری لاسته راغلی د ارزونی ډلی د سمسترد پای په آزموينه کي د استاذانو د رښتينو کړنو په اړه له نورو سرچينو څخه لکه د استاذانو او له بيلابيلو چاراوکو سره خبری اتری، او له محصلينوسره هم ځانګړی مرکی ترسره کړي چې وروسته يی يادونه کيږي.




**دريم شکل:** د ځواب ورکونکو نظريات 5.3 الی 5.13

## 5.3. د پوهنتونونو د استاذانو غيررسمی کړنی

د ټولو ۲۴ کسانو له جملی څخه اوه تنه په دی باورول چې استاذان له خپلو رسمی دندو پرته شخصی کارونه هم په رسمی وخت کی مخته بيايی. له دی جملی ۱۷ تنو منفی نظردرلود د دوی په وينا استاذان خپلو رسمی دندو ته وخت نلري غيررسمی فعاليتونه خو پر ځای پريږده.د نورو سرچينو مالومات د دی ښکارندويی کوي چې استاذان په رسمی وختونوکی خپل وخت په شخصی کارونولګوي او له پوهنتون څخه د باندی بوخت وي. چې داکارکولای شي د استاذانو په څيرنيز، علمی او فرهنګی فعاليتونوکی کموالی راولي.

## 5.4. د آزموينی په پروسه کی د استاذانو د کړنو مديريت او کنترول

د دی سوال په ځواب کی چې د کارکونکو د کړنو مديريت او کنترول د دندی په جريان کی بسنه کوي که نه؟ له ټولو ۲۴ تنو مرکه کونکوڅخه ۱۶ تنو ويلی چې داخلی کنترول په کافی اندازه شتون لري. او اته تنو ويلی چې کافی کنترول شتون نلري. له نورو سرچينوڅخه ترلاسه شوی مالومات د دی ښکارندويی کوي چې د استاذانو کنترول او مديريت د ديپارتمنت د آمر، د فاکولتی د رياست، د پوهنتون رياست او په يوشميرحالاتوکی د لوړو زدکړو وزارت د څارونکی ډلی له خوا ترسره کيږي. د آزموينی په برخه کی علمی شورا د پوهنتون او فاکولتوپه کچه دکړنو د څارنی او ارزونی دنده په غاړه لري نوکولای شو ووايو د پروسي مديريت او کنترول د قناعت وړدی.

## 5.5. د پوهنتونونو د استاذانو د حقوقو، دندو او مسوولیتونو غير رسمی ويش

د دی پوښتنی په اړه له ۲۴ تنو سره مرکه شوی چې يومرکه کونکی ويلی چې د استاذانو لپاره د حقوقو دندو او مسووليتونو غيررسمی ويش شتون لري. لسوتنو مرکه کونکو د مرکی په ترڅ کی ويلی چې دا خبره حقيقت نلري او استاذانوته حقوق، مسووليتونه او دندی د لايحی سره سم ويشل شوی. او په دی برخه کی کومه مالی مسله وجود نلري چې اداره يی په ناسم ډول وويشي. له دی ډلی څخه ۱۳ تنو بی خبری ښودلی ده. له نورو سرچينوڅخه ترلاسه شوی

مالومات او د ارزونی کتنی ښیی چی په اکادمیکه برخه کی د دندو،مسوولیتونو او حقوقوغیر رسمی ویش په بی ساری توګه شتون لري او حتی د یوشمیرپوستونوپه اصلاحاتوکی خنډ ګرځی چی استاذانو قبض کړي.

### 5.6. غیرموجه نفوذ

دغه پوښتنه له ۲۴ کسانوسره مطرح شوی ده چی ۱۸ تنو دغیرموجه نفوذ په موجودیت باوردرلود. او شپږتنو نورو غیرموجه نفوذ رد کړ. خو له نورو سرچینو څخه د ترلاسه شوو مالوماتوپربنسټ په پراخ ډول غیرموجه نفوذ په پروسه کی شتون لري. د مرکه کونکو په نظرډیری وختونه غیرموجه او ناقانونه فشارونه د دولتی چاروا‌کولخوا پراستاذانو تحمیلیږي چی یوناکام محصل کامیاب کړي یا ښی نمری ورکړي. حتی یوه مرکه کوونکی د ازموینی په پروسه کی د غیرقانونی فشار په اړه داسی ویلی:غیرقانونی فشار لومړی د لوړو زدکړو په وزیر، بیا د پوهنتون په ریس او وروسته بیا د پوهنځی په ریس او آمرد بیپارتمنت باندی اوبیا په استاذ باندی تحمیلیږي ترڅو په پای کی محصل ته ښی نمری ورکړل شي؛.

سربیره پردی د مرکه کونکوپه وینا غیرقانونی فشارونه کله ناکله د استاذانو لخوا پراستاذانو تحمیلیږي چی یوناکام محصل کامیاب کړي یا کدری نمری ورکړي. خو له دی سره سره یوشمیرنوربیا داسی نظرلري چی استاذان فشارته تن نه ورکوي او په وړاندی یی دریږي. خو په ټولیزه توګه د مالوماتوپر بنسټ باندنی غیرموجه نفوذ او کورنی غیرموجه نفوذ په پروسه کی شتون لري او همدارنګه د اړیکو لومړیتوب نظرضوابطوته د سمسترد آزموینی په پروسه کی په پام کی نیول کیږي چی کولای شي پروسه د فساد په وړاندی زیانمنه کړي.

### 5.7. له خپل مسیرڅخه د مکلفیتونو ویستل

د ټولو ۲۴ کسانو له جملی نه چی مرکه ورسره شوی ۱۴ تنو مثبت او شپږتنو منفی ځواب ورکړی. او پاتی ۴ تنو بی خبری ښودلی ده. خو ترلاسه شوی مالومات ښیی چی له فشارونو، غیرموجه نفوذ سره سره د لوړو زدکړو په موسسوکی د آزموینی د پروسی ویستل له خپل اصلی مسیرڅخه ډیره کمه شونتیا لری.

### 5.8. ج/6: د کړنو د ترسره کولو په بدل کی د ډالی اخیستل

د دي پوښتني په ځواب کی چی استاذان ډالی اخلی که نه؟د ۲۴ تنو مرکه کونکو له جملی څخه ۷ تنو باوردرلود چی ډالی او بډی اخیستل شتون لري. خو۱۳ تنو مخالف نظردرلود او څلوروتنو بی خبری ښوده. له نورو سرچینوڅخه ترلاسه شوی مالومات د دی ښکارندویی کوي چی د سمسترد آزموینی په پروسه کی د استاذانو غیرمسلکی او ناسم چلند او د محصلینو ویرول له ناکامی څخه فساد او غیر قانونی غوښتنوته موکه برابروي. یو شمیرمرکه ورکونکودی موضوع ته په اشاری سره زیاته کړه چی د آزموینی پوښتنی مخکی له آزموینی راویستل کیږي چی داخپله د فساد د شتون ښکاروندی دی. د بیلګی په توګه یوه مرکه کونکی وویلی؛ ما تراوسه پخپله نه دی لیدلی چی یو استاذ دی ډالی اخستی وی خو کله چی سوالونه مخکی له آزموینی راویستل کیږي د دی ښکارندویی کوي چی بډی اخیستل او فساد شتون لري.

### 5.9. د استاذانو د دندو خوندیتوب

د ۲۴ تنو مرکه کونکو له جملی څخه ۱۶ تنو باوردرلود چی استاذان وظیفوي خوندیتوب لري چی د لوړو زدکړو د وزارت په قانون کی ذکرشوی او پر دی بنسټ هیڅوک نشی کولای یو استاذ پرته د منلو وړ سبب څخه له یوی موسسی بلی ته بدل کړي. له دی جملی څخه پنځه مرکه ورکونکوله خوندیتوب څخه اندیښمن ول او ویل یی چی په قوانینوکی خوندیتوب ذکرشوی خو په عمل کی داسی نه ده. او دریو تنو مرکه ورکونکو بی خبری ښوده. د نورو سرچینود مالوماتو پر بنسټ استاذان د دندی د خوندیتوب په برخه کی جدی ستونزه نلري او آن تردی پوری تضمین شوی چی کله ناکله د سرغړونی لامل کیږي د مرکزدیوه پوهنتون ریس ویلی چی یوه استاذ له یوه محصل سره فزیکی

تاوتريخوالي او مذهبي سپکاوی کړی وو چې دغه استاذ يوبل پوهنتون ته تبديل شو خو وروسته له يوه کال څخه اوس بيرته غواړی خپل لومړنی پوهنتون ته ځان تبديل کړي او وزيرلا له مخکی ورسره منلی ده.

### 5.10. په پروسه کی د ګټو تضاد

له ټولو ۲۴ مرکه کونکوڅخه ۷ تنو ويلی چې د ګټوتضاد د آزموينی په پروسه کی شته دی. ۱۲ تنو دا موضوع جدی رد کړی او پاتی ۵ کسانو بی خبری ښودلی ده. د نورو سرچينو د مالوماتو څخه داسی مالوميږی چې په پروسه کی د ګټوتضاد په کمه پيمانه ليدل کيږي. څکه د ګټوتضاد په داسی ځای کی منځ ته راځی چې مادی ګټی مطرح وي. خو يوشميرمرکه ورکونکوويلی چې په کوم ټولګی کی چې ديوه استاذ لوريا زوی محصل وی هڅه کوي د خپل موقف نه په استفادی ورته کدری نمری ترلاسه کړي.

### 5.11. د آزموينی د اخيستلو او نمری ورکولو په برخه کی د استاذانو ترمنځ سليقه يی توپير

دغه پوښتنه له ۲۴ مرکه کونکوڅخه مطرح شوی چې ۱۷ تنه يی په دی باورول چې د استاذانوترمنځ سليقه يی توپيرشتون لري. اود ۷ تنو په وينا سليقه يی چلند شتون نلري. يوشميرمرکه کونکو ويلی چې استاذان د آزموينی لايحه، مقررات او کړنلاری په ښکاره ډول د نورو په واک کی نه ورکوي څکه استاذان د مکلفيت او حقوقی اسنادو پربنسټ بايد د سمسترد نيمايي آزمويني واخلي خو هغوی دا ټکی په پام کی نه نيسي او داوړه آزمويني د کال په پای کی اخلي چې محصلين له دی کاره ډيرناخوښه دي. د دی سربيره يوشميرمرکه ورکونکوويلی چې استاذان هريو په خپل زړه او لاره آزموينه اخلي. يو سوال تحليلي، يوتخنيکی يو خانه خالی راوړي چې په تحليلی مضمون کی يی حلول ستونزمن وي. په ټوليزه توګه جوتيږي چې استاذان قوانين او مقررات په پام کی نه نيسي او په دی برخه کی غفلت کوي.

### 5.12. د محصلينو شکايتونو ته د رسيدنی له کميټي څخه د محصلينو ناخوښي

د شکايتونو دکميټی د کړنو په اړه له ۲۴ محصلينواو استاذانوسره مرکه شوی. ۱۷ تنو باوردرلود چې بايد شکايتونو کميټه خپلواکه وي.او۷ تنو زياته کړی چې کميټه خپلواکی نلري څکه کله چې محصلين شکايت کوي د کميټي غړی هم استاذان دي له دی امله د محصل په ګټه پريکړه نه کوي. د ډيري مرکه کونکو په وينا سره له دی چې محصل ته حق ورکړل شوی خو په عملی توګه يی ندی ترلاسه کړي. په يوشميرحالاتوکی چې شکايت ته رسيدنه شوی په نمايشي او د رسمياتو د بشپړيدوپه موخه شوی. هغوی ويلی کله چې محصلين وغواړي پارچه يی بيا وکتل شي د استاذانولخوا له مخکی په ناکامولو ويرول کيږي. له دی امله ډيری محصلين کله چې په نمرو قناعت ونلري د شکايت زړورتوب هم نه شي کولای.

### 5.13. اړونده ديپارتمنت ته د آزموينی د پوښتنو او د ځوابونو د کلی سپارل

د آزموينی د پارچې او نورو پاڼو سپارل اړونده څانګو ته د پوښتنود ځوابونو له کلی سره د آزموينی د کړنلاری او لوايحو غوښتنه ده. خو ايا په عمل کی همداسی کيږي؟ په دی اړه له ۲۴ مرکه کونکوسره د استاذانو او کارکونکو په ګډون مرکه شوی. ۱۶ تنو ويلی چې دغه اصل په پوهنتونونو کی شته دی. ۷ تنو بيا داسی نظر ورکړی چې ياد اصل شتون نلري او زياتوي چې يوشمير استاذان د ځوابونوکلی نه جوړوي او اکثره وختونه د محصلينو پارچې له ځان سره کورته وړي او نمری ورکوي او په پای کی يی اړونده څانګی ته سپاري. يوه مرکه ورکونکی بی خبري ښودلی.

### 5.14. د پروسی د ربښتينو کړنو زيانمننه

په يوشميرپوهنتونونوکی د اداری فساد شتون د انديښنی وړدی. د ارزونی ډلی د پوهنتونونو د داخلی آزموينی پروسه د پوښتنو په مطرح کولو ارزولی ده. چې زيانمن ټکي يی په نښه شوی او لازمی سپارښتنی هم په دی اړه وړاندی شوی دي:

- ✓ په پروسه کی غير موجه نفوذ شتون لری چې دغه کارد محصلينو او استاذانو د انديښنی لامل شوی. که چيری دغه وضعيت دوام ومومي خلک به د خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کی د بی نظميو شاهدان وي او په

پوهنتونونوکې په کیفیت ډیرراټیټ شي. و په پایله کې بـه د پوهنتونونو د آزموینې پروسې تـه جدي زیـان واوړي چې د فارغانو اعتبارد خلکو او ادارو ترمخ ترپوښتنې لاندې راولي.

- ✓ له ارزونې ترلاسه شوی مالومات ښیي چې استاذان د آزموینې د اخیستلو په وخت کې مسلکي چلند نه کوي او لکه څنګه چې د رپوټ په متن کې راغلي اکثره مرکه کونکو د استاذانو له چلند څخه شکایت کړی. د هغوی په وینا د ډیرې استاذانو چلند لـه محصلینوسره نـه یوازې لـه علمي چاپیریـال سره برابـر نـدی بلکـه دهغوی پـه چلند کـې سپکاوی او فزیکي تاوتریخوالی هم لیدل شوی دی.
- ✓ ا رزونه ښیي چې استاذان د سمسترله آزموینې څخه ناوړه ګټه اخلي. لکه څنګه چې مخکې پـه رپوټ کې یادونـه شوی استاذان له دې پروسې نه د غیراخلاقي، قومي، ژبنیزو، سیاسي مذهبي او داسـې نـورو موخـو لپـاره کـاراخلي چې دا کار پروسه د فساد پر وړاندې زیانمنوي.
- ✓ ارزونه همدارنګه په ډاګه کوی چې د استاذانو د آزموینې اخیستلو او نمرې ورکولو طرز ډیرسلیقه یي توپیر لـري چې د کرنلارې او لوایحوته پکښې هیڅ پاملرنه نه کیږي.
- ✓ د ارزونې څخه مالومیږي چې د شکایتونوکمیټه د محصلینو شکایتونوته د رسیدنې په برخه کې بې پرې نـه پـاتې کیږي او په یو ډول د استاذانو پلوي کوي. چې داکارد محصلینو زړونه ماتوی او محصلینوته د حق غوښتلوموکې هم کمې شویدی.
- ✓ ارزونه ښیي چې یوشمیراستاذان سربیره پرتدریس غیررسمي او شخصي فعالیتونه هم لري. یوشمیراستاذان دولتي مدیریتي دندې په پوهنتونوکې په غاړه لري. او یوشمیریې له پوهنتون نه د باندې دوامداره دندې لري چې لـه دې امله استاذان نشي کولای د پوهنتون درسونوته پوره پاملرنه اوتدریس ته کافي تیاری ونیسي.

### 5.15. سپارښتنې

أ. دلوړو زدکړو وزارت د غیرموجه نفوذ او مداخلې د مخنیوی لپاره باید هراړخیزه پالیسي پاني جوړې کړي چې وکولای شي د دولتي چارواکو له غیر موجه نفوذ څخه مخنیوی وکړي.

- **مسووله اداره یا شعبه** د لوړو زدکړو وزارت
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو درې میاشتې وروسته

ب. د لوړو زدکړو وزارت باید د تاوتریخوالی، تبعیض او فساد د مخنیوی پـه موخـه اکـادمیکې موسسې و ارزوي. او وروسته له جدي ارزونې نه د ثبوت په صورت کې تورن کسان عدلي او قضـایي ارګانونتـه وروپیژنـي. پـه ورتـه وخت کې خپل څارګرنظام دی ته ورته مسایلوته د رسیدنې په موخه پیاوړی کړي .

- **مسووله اداره یا شعبه** د لوړو زدکړو وزارت
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو وروسته - دوامداره

ج. د لوړو زدکړو وزارت باید د استاذانو د تدریس د کیفیت د پیاوړی کولـو پـه موخـه یو متحدالمال ټولو پوهنتونو او تحصیلي موسسوته ولیږی . چې د استاذانو علمي مکلفیتونه په یوه ټاکلې مهال ویش کې وښـيْ. همدارنګه وزارت باید له پوهنتونونوسره په همغږي کې د متحد المال د پلې کیدو څخه څارنه وکړي.

- **مسووله اداره یا شعبه** د لوړو زدکړو وزارت
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو وروسته - دوامداره

أ. پوهنتونونه باید یو هر اړخیز څـارنیز میکانیزم رامنځتـه کـړی. او د بیلا بیلو مالومـاتي سرچینو لکـه د استاذانو د اتحادیو او د محصلینو د اتحادیو څخه دی د حقوقي اسنادو د پلې کولو څخه په څارنه کې ګټه واخلـي.د دې لارې پوهنتونونه کولای شي ډیرې ستونزې پیدا کړي. له دې امله تحصیلي موسسې او پوهنتونونـه باید د لـوړو زدکړو

وزارت سره په همغږی کی یوه داسی طرحه رامنځته کړي چی د محصلینو اواستاذانونظریاتوته پکښی اهمیت ورکړل شي.

ب. **مسووله اداره یا شعبه** پوهنتونونه د لوړو زدکړو له وزارت سره په همغږی ډول

ج. **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو وروسته - دوامداره

د. د محصلینو د حق غوښتلو لپاره باید داسی د شکایتونو کمیسیون وګمارل شی چی غړی یی د محصلینو د باور وړ وی.او هم باید د شکایتونو صندوقونه په پوهنتونونو کی ځای پر ځای شی.

- **مسووله اداره یا شعبه** د لوړو زدکړو موسسه
- **ضرب الاجل:** د رپوټ له خپریدلو وروسته - دوامداره

## 6. د داخلی آزموینی په پروسه کی د اسنادو او مالوماتو د مدیریت د سیستم زیانمننه

دا څلورمه ساحه ده چی د داخلی ازموینی د پروسی په برخه کی ترارزونی لاندی نیول کیږي. د اداری د مالوماتو او اسنادو د مدیریت د سیستم وضعیت د کارپه څرنګوالی او خدمتونو په وړاند ی کولو کی مهم اواساسی رول لوبوي. بی له شکه کله چی دیوی اداری د اسنادو او مدارکو تنظیم او ارشیف سنتی او کلاسیک یا زوړ وي د خدمتونو د وړاندی کولو په برخه کی منفي اغیزه کوي. برعکس، د مالوماتو او اسنادو د مدیریت مدرن او نوی سیستم د یوی اداری په ټولو برخوکی په ځانګړی توګه د خدمتونو د وړاندی کولو او کارد تسریع او ځواب ورکولو په برخه کی په کم وخت کی کلیدی رول لوبوي.

په دی برخه کی د ارزونی موخه د ګمارنی په پروسه کی د ستونزو او ننګونو پیژندل دی چی کولای شي د فساد په وړاندی په پروسه کی زیانمنونکی شي. د زیانونو د روښانه کولو په موخه او دا چی څه ډول د فساد لامل کیږي یو لړ پوښتنی مطرح شوی چی د مرکه ورکونکو لیدلوری د ځوابونو له لاری انعکاس موندلی..




**څلورم شکل، د ځواب ورکونکو ځوابونه** - 6.1 الی6.5

### 6.1. په دی پروسه کی د اسنادو او مالوماتو د مدیریت د سیستم څرنګوالی

په دی اړه له ۲۴ تنو سره مرکه شوی چی ۲۲ تنو مرکه کونکو اوسنی سیستم زوړ او پخوانی ښودلی او اړتیا وینی چی باید وضعیت بدلون ومومي. له دی منځه یوه تن اوسنی وضعیت ښه بللی او باوریی درلود چی د بریښنایی سیستم په پرتله د فزیکی اسنادو ساتل د تزویراو لاسوهنی مخه نیسي. او یوه مرکه کونکی بی خبری ښودلی ده. خو راټول شوی مالومات له نورو سرچینوڅخه په ډاګه کوی چی د لوړو زدکړو وزارت له څوسره سره ډیری استاذان تراوسه له کمپیوتره ګټه نه اخلی او له پخوانیو کړنلارو څخه کاراخلي.

### 6.2. د/2: د آزموینی اړونده اسنادو د مدیریت د میکانیزم شتون

دغه موضوع له ۲۴ مرکه کونکوسره مطرح شوی.چی ۲۱ تنو مرکه کونکود اسنادو او مالوماتود یوه روښانه او ساده میکانیزم په شتون باوردرلود لیکن دوه تنو اوسنی وضعیت د اندیښنی وړ وباله ځکه کلاسیک سیستم کی د اسنادو او دوسیو د زیاتوالی له امله سره له دی چی اسناد نیته او عنوان لري خو په وخت سره اسناد نه شی ترلاسه کیدای. یوه مرکه کونکی بی خبری ښودلی ده. خو کوم څه چی مدیرانو، محصلینو، استاذانواو نورو سرچینو په ګوته کړی د دی ښکارندویی کوی چی سره له دی چی میکانیزم په لیکلی ډول شتون نلري خو د تدریسی مدیریت کارکونکی په ویژه توګه محصلینوته لارښوونه کوي. له بلی خوا د هغوی په نظرپه فاکولتو یا تحصیلی موسسوکی د اسنادو او تحصیلی سوابقو د مراحلو د پرمخ وړل ډیرسخت کارنه دی او کوم میکانیزم ته اړتیا نلري.

### 6.3. اسنادو ته د لاسرسی زیات وخت نیول

د دی پوښتنی په ځواب کی۲۴ مرکه کونکو خپل نظریات وړاندی کړی چی ۱۴ تنویی ویلی چی پروسه ډیروخت نیسی لیکن ۶ کسانو ویلی چی د آزموینی د پروسی اسنادو اومالوماتوته لاسرسی ډیروخت ته اړتیا نلري. او وایی چی په دی برخه کی یو منظمه کړنلاره شتون لري او که چیری اړونده کارکونکی وغواړي ډیرژر کړنی کولای شي او اسناد د محصلینو په واک کی ورکولای شي. او بلاخره ۴ تنو مرکه کونکو بی خبری ښودلی ده. په ټولیزه توګه لاسته راغلی مالومات ښیی چی ناسم وضعیت او اسنادو ته د لاسرسی ډیروخت نیول نه یوازی د کړنلاري پیچلتیا په ګوته کوی بلکه نور بیلابیل دلایل هم لري.

### 6.4. د اسنادو خوندیتوب

د دی پوښتنی په ځواب کی چی اسناد ترکومه بریده په اړونده څانګو کی خوندی دی؟ ۲۴ مرکه کونکو ځواب ورکړی چی له دی جملی نه ۱۴ تنو د اسنادو او مالوماتوپه خوندیتوب باوردرلود او اته تنو د اسنادو په خوندیتوب باورمند نه ؤ. او دوه نورو بی خبری ښودلی. خو لوړپوړی مدیران اندیښنه لري او زیاتوی چی سره له ډیرکلکو تدابیرو چی د پوهنتونونو د اسنادو او مالوماتو او دمحصلینو د سوابقو د ساتلو او خوندیتوب په اړه ترلاس لاندی دی . له دی سره سره سیستم زیانمن دی.

### 6.5. د مالوماتو او اسنادو په سیستم کی د لاس وهنی شونتیا

دغه پوښتنه له ۲۴ مرکه کونکوسره شریکه شوی چی له دی جملی څخه اته تنو د لاسوهنی احتمال منلی او ۱۴ تنو دا احتمال رد کړی ځکه مالومات په بیلابیلو برخو او څانګو کی ساتل کیږي او پاتی دوه کسانو بی خبری ښودلی.

خو له نورو سرچینو څخه ترلاسه شوی مالومات د دی ښکارندویی کوي چی دمحصلینو په نمرو او سوابقوکی د لاسوهنی احتمال موجود دی.او د اسنادو او مالوماتو د مدیریت په سیستم کی د لاسوهنی موکه متصوره ده، هغوی وایی داسی محصلین شته چی په وار وار ناکام شوی او چانس یی خوړلی خو نمری یی په تحصیلی سوابقوکی جوړی شوی دي. او داسی کسان هم لیدل شوی چی د لاسوهنی له لاری یی کدری نمری اخیستي. کومو محصلینو چی ډیرچانسونه لرل د بدو د ورکولو له لاری یی خپل چانسونه اصلاح کړي او نمری یی پرته د دی چی استاذان تری خبر شي بدلي کړی دی.

سربیره پردی ځواب ورکونکو د مرکی په ترڅ کی ویلی چی ډیرکسان چی چانسونه یی لرل اوس په تحصیلی موسساتوکی استاذان دي. یوه مرکه کونکی داسی وویل: د فایل سیستم د تدریسی په مدیریت کی خوندی ندی. که چیری د تدریسی مدیریا نور اړونده مامورین رښتینی او پاک کسان نه وي په آسانی سره کولای شي پرته د استاذ له هوکړی د محصلینو په نمرو او سوابقوکی بدلون راوړی او ناکام شوي محصل په کدربدل کړي چی پخوا داسی شوی دی.

### 6.6. د اداري فساد په وړاندی د پروسی د اسنادو او مالوماتو د سیستم زیانمننه

د فساد په وړاندی پیژندل شوی زیانمننه اووړاندی شوی سپارښتنی د تحصیلی اسنادو د ارزونی په رپوټ کی په تکراری ډول راغلی پر دی بنسټ د تکرارڅخه دمخنیوی په خاطریوازی دوه مورده چی د ارزونی په ترڅ کی پیژندل شوی وړاندی کیږي.

- ✓ د شعبودمدیرانو له خولی د مالوماتو او اسنادو د مدیریت سیستم ځکه د فساد په وړاندی زیانمن دی چی استاذان د کمپیوترد کارولو جوګه نه دي چی په وار وار استاذانوته روزنه ورکړل شوی ترڅو خپل سوالونه او د ازموینی پانی په کمپیوترکی جوړی کړي او د سافټ په توګه یی دیپارټمنټ یا تدریسی ته وسپاري تر څو اړونده څانګه وکولای شی اسناد په اسانی دیتابیس ته لږترلږه د ایکسل په شیټ کی ولیږدوي.
- ✓ ارزونه ښیی چی د آزموینی د پروسی په اسنادوکی د لاسوهنی احتمال د تدریسی په مدیریت کی شونتیا لري.

## 6.7. سپارښتنی

- په اوسنیو شرایطوکی استاذان باید خپلی ورځنی چاری د کمپیوترڅخه په استفادی تنظیم کړي. لـه دی املـه د لوړو زدکړو وزارت باید د کمپیوتررو‌زنه د استاذانولپاره په اجباری ډول په اړونده موسسوکی برابره کړي.

- مسوله اداره یا شعبه : د لوړو زدکړو وزارت
- ضرب الاجل: د دی رپوټ له خپریدلو څلورمیاشتی وروسته

- د دی لپاره چی په اسنادو کی لاسوهنه د حق د ضایع کیدو او فساد ته د موکی د برابریدو سبب کیږی نو ځکه باید د لاسوهنی څخه مخنیوی وشی. د پوهنتونونو چارواکی باید اسنادو او مالوماتو ته د افرادو لاسرسی بند کړي او داډ ترلاسه کړي چی وړ او مسولیت منونکی کسان په اړونده ځانګو کی ګمارل شویدي.

- **مسوله اداره یا شعبه :** د لوړو زدکړو وزارت
- **ضرب الاجل:** د دی رپوټ له خپریدلو څلورمیاشتی وروسته

<u>**پای**</u>

## سرچینی:


1. د افغانستان د لوړو زدکړو د موسساتو د لیسانس دوری لپاره د کریدت دسیستم لایحه(د لوړو زدکړو د وزارت د مقرراتو، لوایحو او طرزالعملونو چاپ شوی ټولګه، دوهم چاپ، ۱۳۹۰ لمریزکال).
2. د لوړو زدکړو وزارت د موسساتو د آزموینی لایحه( د لوړو زدکړو د وزارت د مقرراتو، لوایحو او کړنلارو چاپ شوی ټولګه، دوهم چاپ، ۱۳۹۰ لمریزکال).
3. د سمستر د آزموینی د اخیستلو کړنلاره او د واحد تحصیلی نصاب په اړه د لوړو زدکړو وزارت د رهبری د مقام او مرکزاو پوهنتونونو د محصلینوچارو د مرستیالانود ګډی غونډی پریکړه – د ۱۳۹۱ لمریزکال د غوایی ۲۰ نیټه
4. د کابل پوهنتون د علمی شورا په سالون کی د اداری فساد په وړاندی د لوړو زدکړو وزارت د داخلی آزموینی د پروسی د زیان منلو د ارزونی غونډه چی د۱۳۹۱ هـ کال د مرغومی میاشتی په ۱۷ نیټه د کابل د پوهنتونونو، طبی پوهنتون، د ښوونی او روزنی پوهنتون، پولی تخنیک او دکاردان د تحصیلی موسسی استاذانو په کی ګډون درلود.
5. د علمي اومسلکی معین، د اکادمیکو چارو له ریس، د بدخشان د پوهنتون له ریس، د بامیانود پوهنتون له ریس او د مرکزد ځلورو پوهنتونونود محصلانو چارو له مرستیالانوسره ځانګړی مرکی.
6. له ۲۴ کسانوسره مرکه چی استاذان، کارکونکی، محصلین او مرکزدپوهنتونونوفارغان په کی شامل دي.
7. د ارزیابی د ډلی کتنی
8. د لوړو زدکړو وزارت برینښا پاڼه www.mohe.gov.af
9. د کابل پوهنتون برینښا پاڼه www.ku.edu.af
10. د کابل د طبي پوهنتون برینښا پاڼه www.kmu.edu.af
11. دکابل د پولی تخنیک د پوهنتون برینښا پاڼه www.kpu.edu.af
12. د کابل د ښوونی او روزنی د پوهنتون برینښا پاڼه www.keu.edu.af
13. د کاردان دتحصیلي موسسی برینښا پاڼه www.kardan.edu.af

## لومړی مل

| د افغانستان د لوړو زدکړو د دولتی موسساتو د داخلی آزموینی کړنلاره یا کاری پروسیجر | | |
|---|---|---|
| بنسټ | دغه پروسه د بیلابیلو کچو د مدیرانو د وېزو څرګندونو، طرزالعملونو او دیوی بشپړی نمونوی دوسیې چې د پلی کیدو وړده پربنسټ ترتیب شوی ده. | |
| موخه | د داخلی ازموینو په پروسه کی د احتمالی اداری فساد په وړاندی د زیان منلو پیژندل او د بنه والی په موخه د سپارښتنو وړاندی کول | |
| **شمیره** | **مرحلې او پړاوونه** | **د پروسې د پلي کولو مرجع** |
| **لومړی مرحله: د پوهنتون په کچه تیاری** | | |
| 1 | د تحصیلی موسساتو د علمی شورا د غونډې دایرول | د تحصیلي موسسی رهبري |
| 2 | د آزموینې د پیل د نیټی ټاکل | د تحصیلی موسسی علمی شورا |
| 3 | د وزارت مقام ته د تایید وړاندیزکول | د تحصیلي موسسی رهبري |
| 4 | د وزارت دمقام تصویب او موافقه | د لوړو زدکړو وزارت مقام |
| 5 | د تحصیلی موسسی په سطحه د آزموینید مرکزی کمیټی ټاکل | د تحصیلی موسسی علمی شورا |
| 6 | اړونده فاکولتو او شعبو ته د علمی شورا د موافقی اعلانول | د تحصیلی موسسی د دفترآمریت |
| **دوهمه مرحله: د فاکولتو په کچه د آزموینی د موظفو کمیټوګمارل او د آزموینی د مهال ویش جوړول** | | |
| 7 | د فاکولتی په سطحه د علمی شورا دایرول | د فاکولتی ریاست |
| 8 | د فاکولتی په سطحه د آزموینی دکمیټی ټاکل | علمی شورا |
| 9 | د فاکولتی په سطحه د آزموینید مهالویش جوړول | د آزموینی کمیته |
| 10 | د آزموینی مرکزي کمیټی ته د مهال ویش سپارل د توحید په موخه | د فاکولتی ریاست |
| 11 | د پوهنتون په سطحه د مهال ویشونو توحید | د فاکولتو د همغږی غونډه / د محصلانو د چارو د معاون په مشری |
| 12 | د آزموینیدمهالویش تصویب د هری فاکولتی په سطحه | د فاکولتو د همغږی غونډه |
| 13 | استاذانو او محصلینوته د اعلاناتو د بورډ یا د نورو لارویه واسطه د مهال ویش یا تقسیم اوقات اعلانول | د فاکولتو د تدریسی مدیریت |
| **دریمه مرحه : اداري تدابیر** | | |
| 14 | له نورو ټولګیو د حاضری راټولول | د تدریسی مدیریت |
| 15 | د حاضری کتل | د تدریسی مدیریت |
| 16 | د محرومو محصلینود نوملړجوړول | د تدریسی مدیریت |
| 17 | محرومو محصلینو ته په ازموینه کی د نه حضور اعلانول | د تدریسی مدیریت |
| 18 | د آزموینید شقو جوړول اوپه آزموینه کی د حاضرو او غیرحاضرو محصلینو د شهرت درجول | د تدریسی مدیریت |
| 19 | د آزموینیدشقوسپارل اړونده استاذانوته | د تدریسی مدیریت |
| **څلورمه مرحله: د آزموینی اخیستل** | | |
| 20 | د اړونده مضمونونود پوښتنواو د ځوابونو دکلی جوړول او دیپارتمنت ته سپارل ترڅو مناسب سوالونه د آزموینی لپاره غوره شي. | د مضمون استاذ |
| 21 | د استاذ لخوا د وړاندی شوو پوښتنوڅخه د مناسبو پوښتنوغوره کول او د دیپارتمنت لخوا دفاکولتی د تاییدی مهرلګول | د دیپارتمنت آمریت |
| 22 | د مضمون استاذ ته د پوښتنپانی سپارل | د دیپارتمنت آمریت |
| 23 | په ټولګی کی شتون او د حاضری اخیستل | د مضمون استاذ |
| 24 | محصلینوته د مهرشوو پوښتنپانو ویشل | د مضمون استاذ |
| 25 | د سوالونو حل او په ټاکلی وخت کی استاذ ته ورکول | محصل |
| **پنځمه مرحله: نمره ورکول او د پایلو اعلان** | | |

| | | |
|---|---|---|
| 26 | ارزونه، پارچوته نمره ورکول | د مضمون استاذ |
| 27 | د مضمون د آزموینی د نمری رسول | د مضمون استاذ |
| 28 | اړونده دیپارتمنت ته د پارچی سپارل | د مضمون استاذ |
| 29 | د نتایجو یا پایلو اعلان | د تدریسي مدیریت |
| **شپږمه مرحله: دمحصلینو شکایتونوته رسیدنه** | | |
| 30 | د شکایت وړاندی کول د پوهنتون ریاست ته | محصل |
| 31 | د پوهنتون د ریاست لخوا د شکایت راجع کول اړونده فاکولتی ته | د پوهنتون ریاست |
| 32 | د فاکولتی لخوا د شکایت راجع کول د آزموینی کمیتی ته | د فاکولتی ریاست |
| 33 | د محصل د شکایت مطالعه او ارزونه او دکمیتي جوړول | د فاکولتی د آزموینی کمیته |
| 34 | د محصل شکایت ته د درسیدنی په موخه د غونډی جوړول د استاذ او محصل او د کمیتی د دوه غړو په شتون کی . | د شکایتونو کمیته |
| 35 | د دواړو اړخونو د قناعت ترلاسه کول (محصل او استاد) | د شکایتونو کمیته |
| **اومه مرحله: د نمرو د ثبتولو په کتاب کی د نمرو ثبتول** | | |
| 36 | د نمرو د جدول دیوی کاپی ساتل په اړونده دیپارتمنت کی، یو نقل تدریسی او بل نقل د اعلاناتو په بورډ باندی لګول کیږي. | د دیپارتمنت آمریت |
| 37 | د شقی له مخی په توحیدی کتاب کی د نتایجو رسول، همدارنګه د اصلی شقی ساتل | د تدریسي مدیریت |
| 38 | د محصلانو آمریت ته د نتایجو د یوه نقل سپارل | د تدریسي مدیریت |
| **د آزموینی د پروسی بشپړول** | | |